# آداب المشي إلى الصلاة

# كتاب دی په بیان د ادابو كې لمانځه ته د تللو پر مهال.

## کتاب دی په بیان د ادابو کې لمانځه ته د تللو پر مهال.

د شيخ الاسلام؛ نوميالي(نامتو او مشهور عالم) او مجدد(چې پخپل دور کې يې اسماني دين بيان کړ) امام شيخ محمد بن عبد الوهاب - رحمه الله- ليکنه.

د السعودية کتابتون 269 / 86 شمېرې لاسي نسخې او څو نورو چاپ شوو نسخو سره پرتله کول او تصحيح يې د يو شمېر شيخانو هر يو: عبد الكريم بن محمد اللاحم، ناصر بن عبد الله الطريم، سعود بن محمد البشر لخوا تر سره شوې ده.

په مدد د نوم د الله چې ډير او هميشه مهربان دی شروع کوم.

باب دی په بيان د ادابو کې لمانځه ته د تللو پر مهال.

په اوداسه کې او په عاجزئ شره وتل سنت دي د پيغمبر- صلى الله عليه وسلم- د دې وينا د وجهې:

"إذا توضأ أحدكم فأحسن وضوءه ثم خرج عامداً إلى المسجد فلا يشبكن بين أصابعه فإنه في صلاة"

کله چې يو ستاسې څخه په ښايسته طريقې سره اودس وکړي، بيا مسجد ته د تللو قصد وکړي، نو ګوتې دې يو بل کې سره نه ورکوي؛ ځکه چې دی په لمانځه کې دی. کله چې د کور څخه وځي دا دعا دی ووايې اګر که لمانځه ته هم نه وځي(په مدد د نوم د الله،په الله مې ايمان راوړی،په الله ځان بچ کوم،الله ته مې ځان سپارلی،نشته اړول د ګناه څخه او نشته طاقت په نيکۍ مګر د الله په مدد، ای الله پناهي نيسم تا پورې له دې چې بل څوک بې لارې کړم او يا پخپله بې لارې شم، او يا بل څوک وخيوم او يا خپله وخويږم،او يا په بل چا ظلم وکړم او

يا په ما ظلم وكړای شي،او يا د بل چا د جاهل كولو باعث شم او يا بل څوک زما د جاهل كولو باعث شي، په پوره سكون او عزت سره دی روان شي د رسول الله -صلى الله عليه و سلم-د دې وينا له امله:

( وإذا سمعتم الإقامة فامشوا وعليكم السكينة فما أدركتم فصلوا وما فاتكم فاقضوا )

كله مو چې اقامت واوريده، نو (مسجد) ته په عاجزۍ سره لاړ شئ، كوم ركعتونه مو چې ( د امام سره ) لاندې كړل ويې كړئ او كوم چې درڅخه تير شوې وو نو پوره يې كړئ. او (بايد د تګ پر مهال ) ميده مزل وكړي او ودې وايې: اللهم إني أسألك بحق السائلين عليك وبحق ممشاي هذا فإني لم أخرج أشراً ولا بطراً ولا رياء ولا سمعة خرجت اتقاء سخطك وابتغاء مرضاتك أسألك أن تنقذني من النار وأن تغفر لي ذنوبي جميعاً إنه لا يغفر الذنوب إلا أنت ويقول :

( اللهم اجعل في قلبي نوراً وفي لساني نوراً واجعل في بصري نوراً وفي سمعي نوراً وأمامي نوراً وخلفي نوراً وعن يميني نوراً وعن شمالي نوراً وفوقي نوراً وتحتي نوراً اللهم أعطني نوراً )

( اللهم اجعل في قلبي نوراً وفي لساني نوراً واجعل في بصري نوراً وفي سمعي نوراً وأمامي نوراً وخلفي نوراً وعن يميني نوراً وعن شمالي نوراً وفوقي نوراً وتحتي نوراً اللهم أعطني نوراً ) كله چې مسجد ته ورسيده ورته مستحب دي چې ( د ننوتلو پر مهال ) ښۍ پښه مخكې كړي او ووايي:

( بسم الله أعوذ بالله العظيم وبوجهه الكريم وسلطانه القديم من الشيطان الرجيم اللهم صل على محمد اللهم اغفر لي ذنوبي وافتح لي أبواب رحمتك )
(بسم الله أعوذ بالله العظيم وبوجهه الكريم وسلطانه القديم من الشيطان الرجيم اللهم صل على محمد اللهم اغفر لي ذنوبي وافتح لي أبواب رحمتك) او د راوتلو پرمهال به چپه پښه مخکې کوي او وايي:
( وافتح لي أبواب فضلك )
( وافتح لي أبواب فضلك ) او کله چې مسجد ته ننوت نو ندې کښيني تر دې چې دوه رکعته لمونځ وکړي؛ (دليل يې د پيغمبر صلى الله عليه وسلم دا قول دى:
( إذا دخل أحدكم المسجد فلا يجلس حتى يصلي ركعتين )
(کله چې يو کس ستاسې نه مسجد ته ننوت نو ندي کښېني تر دې چې دوه رکعته لمونځ وکړي) او د الله په ذکر دې ځان مشغول کړي او يا دې چپ پاتې شي او په دنيوي خبرو کې دې نه اخته کيږي، تر څو چې دى پدې حالت کې وي نو دا په لمانځه کې دى، او پرښتې ورته بخښنه غواړي، تر دې چې څوک ازار نه کړي او يا بې اودسه نه شي.

باب دى د لمانځه د طريقې په اړه

مستحب دي چې د اذان کوونکي لدې وينا سره: قد قامت الصلاة لمانځه ته پورته شي که چيرته امام په جومات کې و، او که نه و نو هغه مهال چې امام وګوري، امام احمد ته وويل شو: آيا له تکبير څخه وړاندې څه وايې؟ ويې ويل: نه، ځکه چې له نبى صلى الله عليه وسلم څخه څه ندي راغلي او نه يې

له کوم صحابي څخه (پدې اړه) څه راغلي دي، بيا به امام صفونه داسې برابر کړي چې اوږه له اوږې او ښنګرى له ښنګري سره (ونخلوي).

او سنت دي چې لومړى اول صف او وروسته نور پوره شي، مقتديان سيده ودرول شي، تر منځه يې تش ځايونه ډک شي، او په هر صف کې ښى لورى غوره دى، او امام ته نږدې ودريدل (هم) غوره دى، (دليل) يې د پيغمبر - صلى الله عليه وسلم - دا قول دى:

"ليلني منكم أولو الأحلام والنهى"

(عاقلان او بالغان (لويان) خلک دي ماپسې نږدې ودريږي)

د نارينه و لپاره غوره صفونه لومړي او بد يې وروستي دي، او د ښځينه و لپاره غوره صفونه ورستي او بد يې لومړي دي.

بيا به د ودريدو پر مهال (که ودريدى شو) "الله أكبر" ووايي:لدې پرته بل څه ترې نه منل کيږي. او په (الله اكبر) سره د لمانځه په پيلولو کې حکمت دا دى چې د هغه چا لويې را په زړه کړي چې په وړاندې يې ودريږي، نو عاجزي ورته وکړي، که چيرته يې د الله اكبر همزه اوږده کړه او يا يې د اكبر پر ځاى إكبار وويل: لمونځ يې نه صحيح کيږي. ګونګى به تحريمه تکبير په زړه کې وايي او ژبه به پرې نه خوځوي او د ده لپاره د قراءت، تسبيح او لدې پرته د نورو ټولو همدا حکم دى.

او سنت دي چې امام تکبير په زوره ووايي، دليل يې د پيغمبر - صلى الله عليه وسلم - دا قول دى:

"إذا كبر الإمام فكبروا"

( كله چې امام تكبير وكړ، نو تاسې هم تكبير وكړئ) او د سمع الله لمن حمده په اړه پيغمبر صلى الله عليه وسلم ويلي:
"وإذا قال سمع الله لمن حمده فقولوا : ربنا ولك الحمد" .
( او كله چې (امام) سمع الله لمن حمده وويل، نو تاسې ربنا ولك الحمد". ووايئ.

او مقتدي او منفرد به (تكبير) په پټه وايي او دواړه لاسونه به پداسې حال کې پورته کوي چې ګوتې يې خلاصې او يو بل ته نږدې کړي وي او د لاسونو ورغوي به يې د قبلې لورې ته کړي وي بيا به يې تر اوږو پورته کړي که چېرته کوم عذر و نه لري او پورته به يې کړي، پدې سره د ده( لمونځ کوونکي) او د ده د رب تر منځ د پردې پورته کېدلو ته اشاره ده، لکه څرنګه چې مسواکۍ ګوته (څوځولو) کې د الله تعالى يووالي ته اشاره ده، بيا به خپل ښى لاس له چپ مړوند څخه تاو کړي او لاسونه به د خپل نوم نه لاندې کيږدي(دا قول مرجوح دى بلکه د نامه د پاسه به يې کيږدي) چې معنا يې د ده د رب په وړاندې عاجزي ده. او ورته مستحب دي چې د لمانځه په ټولو حالاتو کې د سجدې ځاى ته وګوري پرته له تشهد څخه، (ځکه په تشهد کې به ) خپلې مسواکۍ ګوتې ته ګوري. بيا په پټه سره استفتاح ( سبحانك اللهم وبحمدك ) وايي:
او د سبحانک اللهم معنا داسې ده چې: داسې پاکي دې بيانوم لکه څرنګه چې ستا د شان او شوکت سره ښايي، او د (وبحمدک) په اړه وېل شوي چې معنا يې: حمد او ثنا دواړه دې يو ځاى بيانوم (وتبارک اسمک) يعنې برکت ستا په يادولو سره لاس ته راځي.( وتعالى جدک ) او د قدر وړ ده لويې ستا

( ولا اله غيرک ) يعنې په زمکه او آسمان کې ستا څخه پرته بل څوک په حقه د عبادت وړ نشته ای الله، او د لمانځه پرانسته (استفتاح) په ټولو هغو دعاو روا ده چې حديثو کې راغلي دي. بيا په پټه سره تعوذ (داسې) وايي: أعوذ بالله من الشيطان الرجيم او له راغلو الفاظو څخه يې چې په هر يو سره تعوذ وو ايه غوره ده، بيا په پټه سره بسم الله وايي، او هغه ( بسم الله ) نه له فاتحې او نه له کوم بل سورت څخه (آيت) دی، بلکه هغه له فاتحې څخه وړاندې د قرآن يو آيت دی او همدا رنګه د هرو دوو سورتونو تر منځ يو آيت دی پرته د براءت او الانفال له سورتونو څخه. د هر ليک په پيل کې يې ليکل مستحب دي لکه څرنګه چې سليمان عليه السلام ليکلې وه، او لکه څرنګه به چې نبی - صلی الله عليه وسلم - کول.او د ټولو کارونو په پيل کې يې يادونه کيږي،(ځکه) په هغې سره شيطان شړل کيږي. احمد ويلي: (بسم الله) به نه له شعر څخه وړاندې او نه به ورسره يو ځای ليکل کيږي. بيا فاتحه په مرتب، پرلپسې او ټينګه لوستل کيږي، او هغه په هر يو رکعت کې يو رکن دی لکه څرنګه چې په حديث کې دي

"لا صلاة لمن لا يقرأ بفاتحة الكتاب"

صحيح ندی لمونځ د هغه چا چې فاتحة الكتاب(الحمد لله ) نه لولي. او د قران اصل/ مور بلل کيږي ځکه پدې که الهيات(د توحيد بيان)، معاد(دوباره ژوند)، نبوات او د قدر اثبات دی، دوه لومړي آيتونه يې په الهياتو او ( مالک يوم الدين ) په معاد(بيا ژوندون) باندې دليل دی. مونږ يوازې ستا عبادت کوو او يوازې له تا څخه مرسته غواړو. دا په امر، نهي او

توکل او اخلاص دلالت کوي او دا ټول باید یوازې الله تعالی لره وي، او پدې کې پاملرنه ده سمې لارې او د هغې خاوندانو ته او هغه خلک چې پیروي یې کیږي او همدا رنګه ناسمې او لارورکی ته پاملرنه ده (چې ځان ترې وژغورل شي) همدا رنګه مستحب دي چې

له هر آیت سره یې ودریږي،ځکه چې پیغمبر - صلى الله علیه وسلم (همداسې) لوستلې ده او دا په قرآن کې (د معنی له اړخه) تر ټولو ستر سورت دی او په آیتونو کې آیت الکرسی تر ټولو ستر آیت دی. (په فاتحه کې)یوولس شدونه راغلي دي، او په تشدید کې له حد نه اوختل مکروه دي او همدارنګه په مد کې افراط کول، نو کله یې چې(فاتحه)تر پایه ولوسته بیا دې له لږ ځنډ وروسته آمین ووایي، تر څو ښکاره شي چې دا (امین) له قرآن څخه ندی او معنا یې: ای الله قبول یې کړه ده ، امام او مقتدیان به یې یو ځای په لوړ اواز سره وایي. په جهري لمونځونو کې له فاتحې څخه وروسته د (لنډ مهال لپاره) د امام چپ پاتې کېدل مستحب دي، دلیل یې د سمرة حدیث دی، او په ناپوهه یې زده کړه لازم ده که چیرته یې د وړتیا سره زده نه کړه؛ لمونځ یې نه صحیح کیږي، او که چیرته د چا زده نه وي او نه یې له قرآن څخه نور څه زده وي نو پرې لازم دي چې ووایي: "سبحان الله والحمد لله ولا إله إلا الله والله أكبر" دلیل یې د پیغمبر صلى الله علیه وسلم وینا ده:

"إن كان معك قرآن فاقرأ وإلا فاحمد الله وهلله وكبره ثم اركع" رواه أبو داود والترمذي ، ثم يقرأ البسملة سراً ، ثم يقرأ سورة

كاملة ويجزي آية إلا أن أحمد استحب أن تكون طويلة ، فإن كان في غير الصلاة فإن شاء جهر بالبسملة وإن شاء أسر ،
( كه له قرآن څخه دې څه زده وي نو ويې لوله او كه نه وي نو (الحمد لله)، (لا إله إلا الله) او ( الله اكبر) ووايه او بيا ركوع وكړه، ابو داود او ترمذي روايت كړى دى، بيا په پټه بسم الله وايي، بيا وروسته يو بشپړ سورت وايي او يو آيت ورته هم جايز دى، مګر د احمد په اند مستحب دي چې يو آيت بايد اوږد وي، كه چيرته له لمانځه نه د باندې وي نو كولى شي بسم الله په جهر او يا خفيه ووايي. او د سهار په لمانځه كې به له لويو سورتونو يو لولي چې لومړى يې ( ق ) دى دليل يې د اوس وينا ده چې وايي د محمد - صلى الله عليه وسلم له صحابه و څخه مې پوښتنه وكړه چې قرآن څنګه په منزلونو ويشئ؟ هغوى وويل: درې، پنځه، اووه، نهه، يوولس او ديارلس او د لويو سورتونو منزل يې يو دى، او د سهار په لمانځه كې مكروه دي چې له عذر - مريضى، سفر او داسې نورو - پرته لنډ سورتونه ولوستل شي. او په ماښام كې به لنډ سورتونه لولي او ځنې وختونه به يې له اوږدو هم لولي ځكه چې هغه - صلى الله عليه وسلم - پكې الاعراف لوسته او په نورو پاتې كې به يې منځمهالي لوستل كه چيرته به كوم عذر نه و او كه عذر به و نو له هغه څخه به يې لنډ لوستل، او د ښځې لپاره جايز دي چې په جهري لمونځونو كې په لوړ غږ ولولي پدې شرط چې بيګانه يې غږ وانه وري، د شپې پر مهال نفل كوونكى به مصلحت په نظر كې نيسي كه چيرته يې په جهري قراءت سره څوك نږدې كس تكليف كېده نو خفيه قراءت به كوي او كه چيرته ورته چا غوږ ايښوده نو بيا دې په جهر ولولي، او

که چیرته یې په جهري کې په ټیټ او په خفیه کې په لوړ اواز سره لوستل وکړل نو ودې کړي، او په ترتیب سره د آیتونو لوستل واجب دي ځکه چې په اړه یې دلیل راغلی، او د سورتونو ترتیب اجتهادي مساله ده.
او نص پرې د جمهورو علماو په نزد نشته، نو جایز دي چې یو له بل څخه مخکې وروسته ولوستل شي، لدې امله په لیکلو کې د صحابه و مصحفونه ډول ډول وو او د احمد په نزد د حمزه او کسائي په قراءت لوستل مکروه دي، او د ابو عمرو لوی ادغام، کله چې له قراءت څخه فارغ شو له لږ ځنډ وروسته - تر څو سا واخلي- دواړه لاسونه به لکه د لومړي ځل په څېر پورته کړي(رقع الیدین به وکړي)، او خپل قراءت به د رکوع له تکبیر سره نه یو ځای کوي. او تکبیر (الله اکبر) به وایي نو بیا به دواړه لاسونه چې ګوتې یې یو له بل سره جلا وي پر دواړو زنګنونو ږدي، بیا به په هر لاس سره خپل زنګون رانیسي او ملا به نیغه ساتي،او سر به هم د ملا سره برابر ساتي؛ نه به یې پورته کوي او نه یې ښکته کوي، د عائشې د حدیث پر دلالت چې فرمایې: او خپلې څنګلې به له اړخونو(تشو) څخه جلا کوي، د ابو حمید حدیث دی، او په رکوع کې به وایې: سبحان ربی العظیم د حذیفه د حدیث پر بنا چې مسلم یې روایت کړی دی، او د امام لپاره تر ټولو کم پوره شمېر درې او زیات یې لس ځلې ویېل دي او همدا حکم په سجده کې د سبحان ربي الاعلی هم دی، او په رکوع او سجده کې به قراءت نه کوي(قران به نه لولې) ځکه چې پیغمبر - صلی الله علیه وسلم - ورڅخه منع فرمایلې ده، بیا که امام وي او یا منفرد پرې واجب دي چې د "سمع الله لمن حمده" په ویلو

سره سر پورته کړي. او د لومړي ځل په څېر به بيا هم لاسونه پورته کوي او د "سمع " معنا ده؛ قبوله يې کړه، کله چې يې ولاړه بشپړه شوه بيا به وايې:

"ربنا ولك الحمد ملء السموات والأرض وملء ما شئت من شيء بعد"

"ربنا ولك الحمد ملء السموات والأرض وملء ما شئت من شيء بعد" يعنې ای زمونږه ربه! تا لره د آسمانونو او زمکې او هر هغه شي چې له هغه وروسته يې ته غواړي د هغوی د ډکوالي په اندازه ستاينه ده. او که يې خوښه وه نور (لاندې الفاظ) دې هم ورزيات کړي.

"أهل الثناء والمجد أحق ما قال العبد وكلنا لك عبد لا مانع لما أعطيت ولا معطي لما منعت ولا ينفع ذا الجد منك الجد"

"أهل الثناء والمجد أحق ما قال العبد وكلنا لك عبد لا مانع لما أعطيت ولا معطي لما منعت ولا ينفع ذا الجد منك الجد" د ستاينې او د لويي خاوند يې هغه چې بنده وويل ته يې لايق يې مونږ ټول ستا بندګان يو، منع کوونکی نشته هغه څه لره چې ته يې ورکوې، او ورکوونکی نشته هغه څه لره چې ته يې منعه کوې،او فايده نه شي ورکولای خاوند د مرتبې ته ستا په مقابل کې مرتبه د هغه. او کولی شي پرته لدې نور - الفاظ - چې راغلي دي ووايي: او که يې خوښه وه نو ودې وايې: اللهم ربنا لک الحمد پرته له واو څخه ځکه چې د ابو سعيد او نورو په حديث کې راغلي دي. که چيرته مقتدي امام د دې رکوع په حالت کې لاندې کړ نو رکعت يې نيولی دی، بيا به تکبير وايي او په سجده به پرېوځي؛ لومړی به لاسونه نه ږدي، بلکه

لومړی به زنګونه ږدي بیا دواړه لاسونه بیا مخ(سر) پداسې حال کې چې تندی، پوزه او دواړه ورغوي به یې له زمکې سره لږولي وي او د دواړو پښو ګوتې به یې د قبلې لورې ته قات کړي وي. او په دې اوو اندامونو سره سجده کول رکن دی، او لمونځ کوونکي لره روا دي یوځای کول د لاسونو د ورغوو، او د ګوتو راټولول(ګوتې به یو له بل څخه جلا نه وي) په داسې حال کې چې قبلې لورې ته به یې غځولي وي او څنګلي به یې د ځمکې نه پورته کړي وي.

او په ډیر سوړ(یخ) او ډیر ګرم(تود) ځای کې د لمانځه کول مکروه دي ځکه چې خشوع له منځه وړي، او سجده کوونکي لپاره سنت دي چې خپل بازوګان له اړخونو او ګېډې او ګېډه له ورنونو او ورنونه له پنډیو څخه جلا وساتي، او لاسونه به د اوږو برابر ږدي او د زنګنونو او دواړو پښو تر منځ به جلاوالی راولي. بیا په تکبیر ویلو سره سر پورته کوي او داسې به کینې چې چپه پښه یې غوړولي وي او پرې ناست وي او ښی پښه یې ودرولي وي او د چپې پښې لاندې یې راویستلي وي، او د ګوتو لاندې برخه به یې زمکې طرف ته کړي وي تر څو د ګوتو سرونه د قبلې لورې ته شي، د ابو حمید د حدیث له امله چې پیغمبر - صلی الله علیه وسلم د لمانځه د طریقې په اړه یې بیان کړی (وایي) لاسونه به یې پر ورنونو غځولي وي او ګوتې به یې راغوندي کړې وې او وایي: "رب اغفر لي" او کومه خبره نشته که زیات یې وویل:
د ابن عباس د وینا له امله فرمایې: نبی کریم صلی الله علیه وسلم به د دوو سجدو تر منځ وییل:

"رب اغفر لي وارحمني واهدني وارزقني وعافني"
"رب اغفر لي وارحمني واهدني وارزقني وعافني" (دا حديث) ابوداود روايت کړی دی، بیا د لومړی سجدې په څېر دویمه سجده کوي او که یې غوښتل دعا دې پکې وکړي، پیغمبر صلی الله علیه وسلم فرمایي:
"وأما السجود فأكثروا فيه من الدعاء فقمن أن يستجاب لكم"
او په سجده کې ډېره دعا وکړئ، نږدې ده چې دعا مو قبوله شي. (دا حديث) مسلم روايت کړی دی او ده لره له ابوهريرة - څخه روايت دی - چې رسول الله صلی الله علیه وسلم به په سجده کې ویل:
"اللهم اغفر لي ذنبي كله دقه وجله وأوله وآخره وعلانيته وسره" ،
"اللهم اغفر لي ذنبي كله دقه وجله وأوله وآخره وعلانيته وسره"ای الله زما ټول ګناهونه و بخښې واړه غټ لمړني روستني ښکاره پټ. بیا د تکبیر په ویلو سره سر پورته کوي او د قدمونو په مرسته په زنګنونو تکیه کوي او ودرېږي، دلیل یې د وائل حديث دی، مګر که ورته سخته وي د زوړوالي، ناروغۍ او یا کمزورۍ له وجې، بیا لکه د لومړي رکعت په څېر دویم رکعت کوي پرته له تحریمه تکبیر او استفتاح له دعاء څخه (چې نه وییل کیږي) اګر که په لومړي رکعت کې یې ویلي هم نه وي، بیا تشهد ته غوړیدلی کیني، لاسونه به یې په دواړو ورنونو غوړولي وي، د چپ لاس ګوتې به یې سره غونډې د قبلې لور ته غځولې وي او د ښي لاس کچې او ورپسې ګوتې به یې راغونډې کړي وي او غټه ګوته به یې له منځۍ ګوتې سره نښلولې وي او په خفيه به تشهد وايي او د

ښي لاس په مسواکۍ ګوتې سره به په تشهد کې اشاره کوي، چې معنا يې د الله يووالي ته اشاره کول دي، همدارنګه په لمانځه کې دننه او د باندې به د دعا پر مهال پرې اشاره کوي د ابن الزبير وينا ده: نبي كريم صلى الله عليه وسلم به چې كله دعا كوله نو په ګوتې سره به يې اشاره كوله ولې خوځوله به يې نه. ابو داود روايت كړی دی. نو وېل به يې: (التحيات لله والصلوات والطيبات، السلام عليك أيها النبي ورحمة الله وبركاته، السلام علينا وعلى عباد الله الصالحين، أشهد أن لا إله إلا الله، وأشهد أن محمدًا عبده ورسوله).يعنې: ټول تعريفونه ، عبادتونه او ټولې پاكيزه خبرې الله لره دي، سلام دې وي پر تا باندې ای نبي او پر تا باندې دې د الله رحمت او بركتونه وي، او سلامتيا دې وي پر مونږ او د الله پر نيكو او صالحو بندګانو ، شاهدي ادا كوم چې له الله پرته بل څوک د عبادت وړ نشته او شاهدي ادا كوم چې محمد د الله بنده او رسول دی. او هر تشهد يې چې ووايه -پدې شرط چې - له نبی كريم صلى الله عليه وسلم څخه ثابت وي روا دی، خو غوره ده چې لنډ وويل شي او څه شی پرې ورزيات نه شي، دا لومړی تشهد دی. بيا كه چيرته لمونځ يوازې دوه ركعتي و، نو پر پيغمبر صلى الله عليه وسلم دې داسي درود ووايي: اللهم صل على محمد وعلى آل محمد كما صليت على آل إبراهيم إنك حميد مجيد ، وبارك على محمد وعلى آل محمد كما باركت على آل إبراهيم إنك حميد مجيد، او جايز دي چې پر پيغمبر صلى الله عليه وسلم له درودونو وويل شي چې ثابت دی وآل محمد أهل بيته، او د محمد صلى الله عليه وسلم پر كورنۍ دې د الله درود وي. او "التحيات" يعنې ټولې ستاينې يوازې الله

تعالی لره دي چې هغه مستحق او خاوند دی."والصلوات" یعنې دعاګانې "والطیبات" غوره عملونه، هغه پاک ذات دی چې هغه نورو ته سلام وایې او پر هغه سلام نه اچول کیږي، ځکه چې سلام دعا ده. همدا رنګه پرته له پیغمبر صلی الله علیه وسلم څخه پر بل چا هم د درود ویل جایز دي کله چې ځانته وي پدې شرط چې زیاتوالی به پکې نه وي او چې د ځینو خلکو لپاره شعار هم و نه ګرځي، یا دا چې ځینې صحابه یې ورڅخه موخه وي او ځینې نور نه، همدا رنګه پرته له لمانځه څخه هم پر پیغمبر صلی الله علیه وسلم درود ویل سنت دي، او په کار ده چې د پیغمبر صلی الله علیه وسلم دیادولو پر مهال پرې ډیر ټینګار وشي، او د جمعې په ورځ او شپه کې، او سنت دي چې ووایي:

"اللهم إني أعوذ بك من عذاب جهنم ومن عذاب القبر وأعوذ بك من فتنة المحيا والممات وأعوذ بك من فتنة المسيح الدجال"

"اللهم إني أعوذ بك من عذاب جهنم ومن عذاب القبر وأعوذ بك من فتنة المحيا والممات وأعوذ بك من فتنة المسيح الدجال"

یعنې: (یا الله! زه پناه غواړم په تا سره د جهنم له عذاب څخه، او د قبر له عذاب څخه، او پناه غواړم په تا سره د ژوند او مرګ له هر ډول فتنې څخه او پناه غواړم په تاسره د مسحه شوي دجال له فتنې څخه. او که لدې پرته یې نورې دعاګانې وکړې چې راغلي وي نو ښه ده، دلیل یې د پیغمبر صلی الله وسلم وینا ده:

"ثم يتخير من الدعاء أعجبه إليه"

بیا به له دعا څخه هغه غوره کوي چې ورته ښه ښکاري. پدې شرط چې په مقتدي سختي نه وي، همدا رنګه یو خاص کس

ته دعا کول جایز دي ځکه پیغمبر صلی الله علیه وسلم دا کار کړی کله یې چې د مکې مکرمې ضعیفو مسلمانانو ته دعا کوله، بیا به په ناسته سلام ګرځوي او له ښي لورې به یې پیلوي او وایې به : السلام علیکم ورحمة الله او چپ طرف ته همدا رنګه او مخ اړول سنت دي، چپ لورې ته مخ ګرځول به یې زیات وي تر دې چې مخ یې ولیدل شي او یوازې امام به لومړی سلام په زوره وایي او پرته له امام څخه نور به دواړه سلامونه په خفیه سره وایې، او سنت دي چې زیات پرې غږ اوږد نشي، پدې معنا چې اواز به نه راکاږي، او پدې سره به د لمانځه څخه د وتلو نیت کوي، همدا رنګه په سلام سره به یې نیت په حفظه ملایکو او حاضرو خلکو سلام اچول هم وي.
او که چیرته لمونځ له دوه رکعتي څخه زیات و نو د لومړي تشهد څخه وروسته به د قدمونو پر مخ له تکبیر سره پورته شي او پاتې لمونځ به پوره کړي لکه چې وړاندې وویل شو، مګر دا چې په جهر به څه نه وایي او نه به له فاتحې څخه وروسته څه وایې، که داسې یې وکړل باک نشته(په سورت فاتحه یې څه ورزیات کړه)، بیا دویم تشهد ته کښني پداسې شکل چې چپه پښه به وغوړوي او ښۍ پښه به ودروي او دواړه پښې به ښي لور ته وباسي او کوناټې به په زمکه ولګوي لومړی تشهد به ووایي، بیا به په نبی صلی الله علیه وسلم درود ووایي بیا به دعا وکړي او وروسته به سلام وګرځوي. امام به مقتدیانو ته له ښي او یا له چپ لورې مخ وروګرځوي او امام به له سلام څخه وروسته د قبلې طرف ته ناسته نه اوږدوي او مقتدیان به هم له امام څخه مخکې نه ځي؛ دلیل یې د پیغمبر صلی الله علیه وسلم وینا ده:

"إني إمامكم فلا تسبقوني بالركوع ولا بالسجود ولا بانصراف"
،
"زه ستاسې امام يم؛ نه به راڅخه په ركوع او سجده كې مخكې والی كوئ او نه به راڅخه مخكې خپريږئ" كه چېرته ورسره ښځو جماعت وكړ، نو ښځې به خپرې شي او سړي به لږ ځنډ وكړي تر څو ورسره يو ځای نه شي، او د الله يادول، دعا او استغفار ويل د لمانځه پسې سنت دي، داسې به وايي: استغفر الله درې ځلې، بيا به وايي: اللهم أنت السلام ومنك السلام تباركت يا ذا الجلال والإكرام لا إله إلا الله وحده لا شريك له له الملك وله الحمد وهو على كل شيء قدير، ولا حول ولا قوة إلا بالله لا إله إلا الله ولا نعبد إلا إياه له النعمة وله الفضل وله الثناء الحسن لا إله إلا الله مخلصين له الدين ولو كره الكافرون:
"اللهم لا مانع لما أعطيت ولا معطي لما منعت ولا ينفع ذا الجد منك الجد"
"اللهم لا مانع لما أعطيت ولا معطي لما منعت ولا ينفع ذا الجد منك الجد" بيا به سبحان الله، الحمد لله او الله اكبر هر يو درې ديرش ځلې ووايي او د سلو د پوره كولو لپاره به وايي:
"لا إله إلا الله وحده لا شريك له له الملك وله الحمد وهو على كل شيء قدير"
"لا إله إلا الله وحده لا شريك له له الملك وله الحمد وهو على كل شيء قدير"
(له الله پرته بل څوک د عبادت وړ نشته، هغه يو دی شريک نلري، بادشاهي يوازې د هغه ده او هغه لره ټول ثناوو صفتونه دي او هغه پر هر څه برلاسی (قادر) دی). او د سهار او ماښام

له لمونځونو څخه وروسته به مخکې لدې چې څوک خبرې وکړي اووه ځلې وو ايې: اللهم أجرني من النار، او په پټه د دعا کول غوره دي او همدارنګه ماثوره (ثابتې) دعاګانې. همدارنګه دعا کول به په ادب، خشوع، د زړه حضور، ليوالتيا او له الله څخه د ويرې په حال کې وي، دليل يې حديث دی:
"لا يستجاب الدعاء من قلب غافل"
له غافل زړه څخه دعا نه قبليږي د الله تعالى نومونه، صفتونه او توحيد به هغه ته وسيله ګرځوي او د دعا د قبليدلو وختونه به څاري چې د شپې دريمه برخه، د آذان او اقامت تر منځه، د فرض لمونځونو څخه وروسته او د جمعې د ورځې وروستۍ شيبه ده، او د قبليدو لپاره به زيار باسي او بيړه به نه کوي چې ووايي: ډيرې دعاګانې مې وکړې خو قبولې نه شوې، او کومه خبره نشته که ځان په دعا سره ځانګړی کړي مګر په هغه دعاګانو کې چې خلک پرې آمين وايي، او د اواز پورته کول مکروه دي.
او په لمانځه کې لړ آخوا ديخوا ليدل، اسمان لورې ته کتل، انځور ته او يا انسان ته مخامخ ودريدل، اور ته مخ کول اګر که چراغ هم وي او د ځنګلو خيرول په سجده کې دا ټول مکروه دي، او په لمانځه به نه ودريږي پداسې حال کې چې تش او يا ډک معذرت ته يې اړتيا وي، او يا هغه خواړه راوړل شوي وي چې زړه يې ورته کيږي، بلکه لمونځ به وروسته کوي ولو که جماعت ترې هم تېريده. او په جومات کې په تيږو سره لوبې کول او ګوتې سره يو بل کې ورکول، دناستې پر مهال په لاسونو تکيه وهل، په ږيره کې لاس وهل، د ويښتانو پورته کول، د جامو راغونډول مکروه دي، او که چيرته

انګشی ورغی نو تر خپلې وسې دې بند کړي، خو که چیرته پرې زورور شو نو په خوله دې لاس کیږدي، او مکروه دي چې ځان لپاره د سجدې د ځای خاورې برابرې او اوارې کړي، او که چیرته یې څوک مخې ته تیریده منع دې کړي؛ هغه که انسان و او یا بل شی، لمونځ فرض و او که نفل که چیرته نه منع کېده په منع کولو دې یې ټینګار وکړي تر دې که لږ تېر شوی هم و، او د لمونځ کوونکي او سترې تر منځه تېرېدل حرام دي او که چیرته ستره نه وي نو مخې ته تېرېدل یې هم حرام دي. او د اړتیا پر مهال ورته د مار، لړم او سپږې وژل جایز دي، او کولی شي خپلې جامې او پګړۍ برابره کړي، او د یو شي پورته کول او ایښودل یې، او په لاس، مخ او سترګو سره ورته اشاره کول جایز دي. او په لمونځ کوونکي سلام اچول مکروه ندي او کولی شي په اشارې سره جواب ورکړي، او که چیرته امام په قراءت کې بند او یا غلط شو کولی شي فتحه ورکړي او په لمانځه کې د تیروتنې پر مهال به ورپسې مقتدي که سړی وي سبحان الله او که ښځینه وي نو د لاسونو څخه به پړک وباسي تر څو یې غلطۍ ته متوجه کړي او که چیرته خولې کې لاړې راتولې شوې او یا یې خولې ته بلغم راغلل او دی په جومات کې و نو په خپلو کالیو کې دې تف کړي او که چېرته له جومات څخه د باندې و کولی شی چپ طرف ته یې تف کړي، او ورته مکروه دي چې په لمانځه کې مخې او یا ښي لورې ته لاړې او یا بلغم تف کړي.

او د مقتدي لپاره مکروه دي چې له سترې پرته په لمانځه ودریږي اګر که د چا د تېریدلو ویره هم نه وي،دیوال او یا

کوم لوړ شی او یا نیزه او داسې نور چې د پالان په اندازه لوړوالی ولري ځانته دی یې ستره وګرځوي، او سنت طریقه ده چې سترې ته نږدې ودریږي، دلیل یې د پیغمبر صلی الله علیه وسلم وینا ده:

"إذا صلى أحدكم فليصل إلى سترة ويدن منها"

«کله چې یو ستاسې څخه لمونځ کاوه نو سترې ته دې وکړي او ورنږدې دې شي». او لږ به ورڅخه کوږ ودریږي لکه څرنګه به چې پیغمبر صلی الله علیه وسلم کول، او که چیرته یې د سترې لپاره څه و نه موندل نو یو خط دې وباسي، او که د خط تر شا څه شی تېر شو لمونځ یې نه مکروه کیږي، که چیرته ستره نه وه او یا د ده او د سترې تر منځه کومه ښځه، سپی او یا خر تېر شو لمونځ یې باطل شو.

او کولی شي د مصحف له مخې قراءت وکړي، د رحمت له آیت سره له الله څخه وغواړي او د عذاب له آیت سره پر الله پناه ونیسي.

او قیام (ودریدل) په فرض لمانځه کې رکن دی، دلیل یې د الله تعالی وینا ده:

{ وقوموا لله قانتين }

[او الله ته ودریږئ او لمانځه کې خبرې مه کوئ] مګر ناتوان، لوځ، ویریدلی یا څوک چې د هغه چا مقتدي وي چې هغه ودریدلی نه شي، او که چېرته یې امام په رکوع کې لاندې کړ نو تکبیر تحریمه باید په ولاړه ووایي(هغه فرضیت د قیام به ورڅخه ساقط شي).

او تحریمه تکبیر رکن دی، همدا رنګه د فاتحې لوستل د امام او ځانته لمونځ کوونکي لپاره، او رکوع هم رکن دی، دلیل یې د الله تعالی قول دی:

{ یا أیها الذین آمنوا ارکعوا واسجدوا }

[ای هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی! تاسو رکوع وکړئ او سجده وکړئ] او له ابو هریرة رضی الله عنه څخه روایت دی چې یو سړی جومات ته ننوت او لمونځ یې وکړ بیا پیغمبر صلی الله علیه وسلم ته راغی او سلام یې پرې واچاوه رسول الله-صلی الله علیه وسلم- وویل:

"ارجع فصل فإنك لم تصل"

«وګرځه لمونځ وکړه ځکه چې تا لمونځ ندی کړی» درې ځلې یې داسې وکړل هغه سړی وویل: قسم په هغه ذات چې ته یې په حقه نبي رالیږلی یې لدې یې ښه نشم کولی نو راویې ښایه؛ پیغمبر صلی الله علیه وسلم ورته وویل:

"إذا قمت إلی الصلاة فکبر ثم اقرأ ما تیسر معك من القرآن ثم ارکع حتی تطمئن راکعاً ثم ارفع حتی تعتدل قائماً ثم اسجد حتی تطمئن ساجداً ثم اجلس حتی تطمئن جالساً ثم افعل ذلك في صلاتك کلها

کله چې لمانځه ته ودریدې نو تکبیر ووایه بیا چې درته له قران څخه څه آسانه وي ویې وایه(همدا سورت فاتحه اسان دی په ټول قران کې)، بیا رکوع وکړه تر دې چې په رکوع کې ښه ډاډمن شې، بیا راپورته شه تر دې چې نیغ برابر ودریږې، بیا سجده وکړه تر دې چې په سجده کې ډاډمن شې، بیا کښېنه تر دې چې په ناسته کې ډاډمن شې بیا همداسې په

ټول لمانځه کې وکړه. دا حدیث امام بخاری، مسلم، ابو داود، نسائي، ترمذي، ابن ماجه او احمد بن حنبل روایت کړی. لدې معلومه شوه چې هغه څه چې پدې حدیث کې یاد شول په هیڅ حالت کې نه ساقطیږي، که چېرته ساقطېدای نو له لدې ناپوهه اعرابي څخه به ساقط شوي وو.

او پدې افعالو کې طمأنینة ( په آرامۍ سره ادا کول) رکن دی د هغه حدیث له مخې چې تېر شو. او حذیفه یو سړی ولیده چې رکوع او سجده یې پوره نه کوله نو ورته یې وویل: لمونځ دې ندی کړی، او که چېرته مړ شوی نو د هغه فطرت خلاف به مړ شوی یې چې الله پرې محمد صلی الله علیه وسلم پیدا کړی دی(اسلام).

او وروستی تشهد رکن دی؛ دلیل یې د ابن مسعود قول دی: وړاندې لدې چې پر مونږ تشهد فرض شي ویل به مو: السلام علی الله السلام علی جبریل ومیکائیل، نو نبی کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل:

"لا تقولوا هكذا ولكن قولوا التحيات لله"

داسې مه وایئ، مګر داسې وایئ: التحيات لله" دا حدیث نسائي روایت کړی او روایان یې ثقه دي.

او هغه واجبات چې په سهوې سره ساقطیږي (اته) دي: له تحریمه تکبیر پرته نور تکبیرونه، او د امام او منفرد لپاره سمع الله لمن حمده، او ربنا ولک الحمد د دواړو لپاره، او د رکوع او سجدې تسبیحات، او د رب اغفرلي وېل، او لومړی تشهد او ورته کېناستل او پرته لدې نور ټول اقوال او افعال(په لمانځه کې) سنت دي.

قولي سنتونه اوولس دي: استفتاح (سبحانک اللهم)، أعوذ بالله. بسم الله.آمين، په لومړيو دوو رکعتونو کې د سورت ویل(وروسته له فاتحې څخه)، او د سهار، جمعې، اخترونو او نفلي ټولو لمونځونو جهري او خفيه، او د ملء السماء والأرض تر اخره پورې ويیل او له يو ځل څخه زيات تسبيحات په رکوع او سجده کې وېل، او د: رب اغفرلي او ، او وروستی تشهد کې له څلورو شيانو په الله تعالی پورې پناه غوښتل او په نبي کريم صلی الله عليه وسلم او کورنی يې درود او برکت وېل(درود ويل په رسول الله -صلی الله عليه و سلم په روستی تشهد کې رکن دی) (او رب اغفر لی د سجدو په مینځ کې واجب دي) . او لدې پرته نور فعلي سنتونه دي لکه د ګوتو يو بل سره يو ځای کول، او مخ په بره اوږدول او قبلې لور ته يې مخ کول د تحريمه تکبير، رکوع او له رکوع نه د پورته کېدو پر مهال او وروسته لدې يې ټېټول او ښی لاس له چپ مړوند څخه تاوول او بيا دواړه له نوم نه لاندې اېښودل(عن سهل بن سعد-رضی الله عنه قال:(کان الناس يومرون ان يضع الرجل اليد اليمنی علی ذراعه اليسری فی الصلات) اخرجه البخاری (د سهل بن سعد څخه روايت دی فرمای خلکو ته امر کیدای شو چې سړی دې ښی لاس په کيڼه څنګل کيږدي په لمانځه کې) بخاري پخپل صحيح کې روايت کړی) او د سجدې ځای ته کتل،او د قيام پر مهال د پښو تر منځ جداوالی راوستل او په نوبت سره په يوه پښه او بله پښه زور راوستل (المراوحة) او قراءت په ترتيل سره ويل، او د امام لپاره په قراءت کې تخفيف(لنډ لوستل)او داچې لومړی رکعت به د دويم په پرتله اوږد وي او په رکوع کې په دواړو

لاسونو سره زنګنونه ټینګ نیول پداسې حال کې چې ګوتې به یې یو له بل څخه جلا وي او ملا یو برابر نیول او سر د ملا سره برابر نیول او سجدې ته د ټیټېدو پر مهال له زنګنونو څخه مخکې د لاسونو لګول(فی الحقل الربع و الخمسین قال:فیضع رکبتیه ثم یدیه امل ارالة هذا التناقض رغم ان هذه المسالة لم یرد فیها حدیث صحیح مرفوع) او د ولاړېدو پر مهال لومړی د لاسونو راپورته کول مخکې له زنګنونو څخه او په سجده کې د زمکې سره د تندې او پوزې لګول او له اړخونو څخه د مټونو جدا کول او ګېډه له ورنونو او ورنونه له پنډیو څخه جدا کول او د پښو ودرول او د ګوتو لاندې برخه یې زمکې سره لګول پداسې حال کې چې یو له بل څخه به یې ګوتې جلا وي او لاسونه د اوږ.و برابر اېښودل پداسې حال کې چې د سجدې کولو پر مهال به یې ګوتې یو له بل څخه جلا وي او د لاسونو ګوتې به یې د سجدې پر مهال قبلې ته مخامخ اوږدې غځولې وي، او دا چې لمونځ کوونکی په لاسونو، تندي او دویم رکعت ته د ودریدو پر مهال د پښو په لاندې برخه باندې زور راوړي پداسې حال چې په لاسونو سره به یې په خپلو زنګنونو تکیه کړې وي، او د دوه سجدو تر منځه او تشهد لپاره د ناستې پر مهال د پښو غړول او د ښي لاس د کچۍ او ورپسې ګوتو راغونډول او د غټې او منځۍ ګوتو یو له بل سره نخلول تر څو ترې کړۍ جوړه شي او بیا په مسواکۍ ګوتې سره اشاره کول، او د سلام پر مهال ښي او چپ طرف ته مخ اړول او د چپ اړخ په ښي اړخ باندې اوږ.دول.

او د سهوې د سجدې په اړه احمد فرمايلي دي: په اړه يې له پيغمبر صلى الله عليه وسلم څخه پنځه شيان پاتې دي: په دوه رکعتونو يې سلام وګرځاوه نو سجده يې وکړه، په دريو رکعتونو يې سلام وګرځاوه نو سجده يې وکړه او په زيادت او نقصان کې، او له دوه رکعتونو پورته شو پرته لدې چې تشهد ته کيني، خطابي وايي: د اهل علمو په اند دا پنځه باوری حديثونه دي: يعنې دوه حديث د ابن مسعود او أبو سعيد، او ابو هريره او ابن بحينه، او د سهوې سجده د زياتوالی او يا کموالي پر مهال لازميږي او د شک په صورت کې(چې د لمونځ کوونکي شک پيدا شو چې ايا دوه رکعته مې وکړه که درې؟)په فرضو او نفلو کې، مګر چې زيات شي(شک) نو بيا په وسوسو بدليږي نو بايد لرې يې کړي. او همدارنګه په اودس، غسل او د نجاست په لرې کولو کې، نو هر کله چې د لمانځه له حرکتونو څخه لکه: قيام، رکوع، سجده او يا قعده کې په قصدي توګه زياتوالی راشي نو لمونځ باطليږي او که په سهوې سره پکې څه شی زيات شو نو د سهوې سجده پرې لازميږي، دليل يې د پيغمبر صلى الله عليه وسلم قول دی:

"إذا زاد الرجل أو نقص في صلاته فليسجد سجدتين"

«کله چې يو څوک په لمانځه کې زيادت او يا کموالی راولي نو دوه سجدې دې وکړي». مسلم روايت کړی دی. او کله يې چې په ياد شول، نو د لمانځه ترتيب ته دې پرته له تکبير ويلو څخه راوګرځي او که رکعت يې زيات کړی و قطع دې کړي کله چې ورته ياد شو او له هغې چې مخکې کوم عمل وی له هماغه ځای دې بنا وکړي که تشهد يې کړای وو بيا دی نه

کوي سجده سهوه دې وکړي او سلام دې واړوي او مسبوق(هغه مقتدي چې کوم رکعت ورڅخه تللی)دې زيات رکعت ته اعتبار نه ورکوي،او که چېرته ځوک پدې پوه شو چې امام سهوا رکعت اضافي وکړ نو ندې ورپسې ودرېږي، او که چېرته امام وي او يا ځانته په لمانځه ولاړ وي او دوه باوري نفرو متوجه کړ بايد راوګرځي، او که چېرته يو تن پرې غږ وکړ نو ندې راګرځي تر دې چې خپله ډاډمن نشي، ځکه پيغمبر صلى الله عليه وسلم يوازې د ذى اليدين په خبره لمونځ راونه ګرځاوه.

او په اندک عمل سره لمونځ نه باطلېږي، لکه د پيغمبر صلى الله عليه وسلم لخوا (په لمانځه کې) عائشې ته دروازه خلاصول، او يا پر اوږو د امامة سپرول، او که چېرته يې کوم جايز عمل په لمانځه کې تر سره کړ لکه: د ناستې پر مهال قراءت وېل او يا د قيام پر مهال تشهد ويل نو لمونځ يې نه باطلېږي

او په کار ده چې سجده د سهوې له امله وشي، دليل يې د پيغمبر صلى الله عليه وسلم دا عام قول دی:

( إذا نسي أحدكم فليسجد سجدتين )

( کله چې يو ستاسې څخه - څه شی - هېر کړي نو دوه سجدې دې وکړي ) او که چېر ته يې له پوره کېدو څخه وړاندې قصداً سلام وګرځاوه لمونځ يې باطل شو، او که سهوا يې ترې دا کار وشو او په نږدې وخت کې يې ورته پام شو نو پوره دې کړي آن که له جومات څخه وتلی هم وي او يا يې د دې په اړه لږې خبرې کړي وي، او که په ناپامی کې يې خبرې کړې وې

او یا ویده شوی و او بیا یې خبرې کړې وې او یا دا چې د قراءت پر مهال یې په ژبه پرته له قرآن څخه نور څه الفاظ راغلل نو لمونځ یې نه باطلیږي، او که په کړس کړس یې وخندل په اجماع سره یې لمونځ باطل دی، خو یوازې په مسکا نه باطلیږي.

او که له تحریمه تکبیر څخه پرته یې بل رکن هېر شوی و او په ورپسې رکعت کې یې د قراءت پر مهال په یاد شو نو هغه رکعت کې یې چې رکن هېر شوی و باطل شو او پر ځای یې دویم رکعت لومړی حسابیږي، او افتتاح( سبحانک اللهم ) به بیا نه وایي؛ دا د احمد قول دی او که چېرته یې له قراءت پیلولو څخه مخکې راپه یاد شو نو هغه دې راوګرځوي او ورپسې دې هم وکړي، او که چېرته یې لومړی تشهد هېر شوی و او پورته شو، پرې لازم دي چې تشهد ویلو ته بېرته وروګرځي او ویې وایي دا پداسې حال کې چې پوره نه وي ودریدلی، دلیل یې د مغیره حدیث دی چې ابو داود روایت کړی دی، او پر مقتدي یې متابعت لازم دی او تشهد ترې ساقطیږي او د سهوې لپاره به سجده کوي، او څوک چې د رکعتونو په شمېر کې شکي شو، نو له هر څو رکعتونو چې ډاډمن و همغو ته دې اعتبار وکړي او که مقتدي شکي شو نو د امام لمانځه ته اعتبار ورکول کیږي، او که چېرته مقتدي له امام سره په رکوع کې یو ځای شو او شکي شو چې آیا رکعت به یې رانیولی وي مخکې لدې چې امام سر پورته کړي او که نه، نو دا رکعت سم ندی، او که چېرته یقیني و نو رکعت یې سم دی او نور پاتې رکعتونه دي د امام له سلام اړولو څخه وروسته پوره کړي او د سهوې لپاره دې سجده وکړي. او پر

مقتدي د سهوې سجده نشته، مګر دا چې امام يې په لمانځه کې سهوه شي نو د هغه سره به د سهوې سجده کوي او که تشهد يې نه و پوره کړی نو د امام له سجدې څخه وروسته دې پوره کړي، او څوک چې په سهوې سره له امام څخه مخکې سلام وګرځوي او يا دا چې امام سهوه شي او دی هم ورسره سهوه شي او يا خپله يوازې سهوه شي نو له سلام ګرځولو څخه مخکې به سجده کوي، مګر دا چې سلام يې ګرځولی وي پداسې حال کې چې يو يا زيات رکعتونه پريښي وي او سلام وګرځوي، دليل يې د عمران او ذو اليدين حديثونه دي نو پداسې حال کې به د غالب ګمان پر بنا له سلام اړولو وروسته سجده کوي، دليل يې د علي او ابن مسعود حديث دی. او که يې له سلام اړولو مخکې او يا وروسته هېر شوی و نو ودې يې کړي خو چې زيات وخت پرې نه وي تېر شوی، او د سهوې سجده او څه چې پکې ويل کيږي او ورڅخه په پورته کېدلو کې هغه څه ويل کيږي چې د لمانځه په سجده کې ويل کيږي.

دا باب د نفلي لمونځونو په اړه دی

ابو العباس ويلي: په نفلي لمونځونو سره د قيامت په ورځ فرضي لمونځونه پوره کيږي چې په سمه توګه پوره نه وي ادا شوي، پدې اړه مرفوع حديث راغلی، همدا رنګه زکات او نور عملونه، او غوره نفلي عمل جهاد دی، او بيا ورپسې يې نور عملونه لکه نفقه او داسې نور، بيا خپله زده کړه او نورو ته ورښودل. ابو الدرداء ويلي: عالم او زده کوونکی سره په ثواب کې برابر دي او نور پاتې ټول خلک هيڅ وزن نلري او

له احمد څخه روایت دی: د علم زده کړه تر ټولو غوره عمل دی د هغه چا لپاره چې نیت یې سم وي او وایي: د شپې په یوه برخه کې په زده کړه بوختیا راته لدې غوره ده چې شپه په لمانځه کولو سبا کړم. او فرمايي: د علم دومره زده کړه پر انسان واجب ده چې خپله دینداري پرې وکړي، ورته وویل شو، لکه څومره: ویې ویل: دومره چې ناپوهي یې لمونځ روژې او د دې په شان نورو ته ونه غزیږي او د علم څخه پس بیا لمونځ دی دلیل یې دا حدیث دی:

"استقيموا ولن تحصوا واعلموا أن خير أعمالكم الصلاة"

«د حق، عدالت او نیغې لارې پر پیروۍ کلک پاتې شئ، او تاسو په نېغه لاره سل په سلو کې کلک نه شئ پاتې کېدلی، او پوهه شئ چې تر ټولو غوره عمل لمونځ دی». لدې وروسته هغه عملونه چې نورو ته یې ښېګڼه رسیږي لکه: د ناروغ پوښتنه، د یو مسلمان اړتیا پوره کول، او د خلکو تر منځ روغه جوړه کول، دلیل یې د پیغمبر صلی الله علیه وسلم دا وینا ده:

"ألا أخبركم بخير أعمالكم وبأفضل من درجة الصوم والصلاة ؟ إصلاح ذات البين فإن فساد ذات البين هي الحالقة"

«آیا تر ټولو پر غوره عمل مو خبر درنکړم چې درجه یې له روژې او لمونځ څخه غوره وي: د دوو مرورو تر منځه روغه جوړه کول، ځکه د دوی تر منځه خفګان د دین جرړې له بېخه باسي». دغه حدیث ترمذي صحیح بللی دی. او احمد ویلي: د جنازې پسې تلل له (نفلي) لمونځ څخه غوره عمل دی او هغه عملونه چې ګټه یې نورو ته رسیږي بېلابېل ډول دي:نږدې خپلوانو ته چې اړمن وي صدقه ورکول له مریي

ازادولو څخه غوره دي او همدا رنګه غوره دي لدي چې يو پردي ته صدقه ورکړل شي مګر دا چې لوږه راغلي وي، بيا ورپسې حج، او له انس څخه مرفوع روايت دی.

"من خرج في طلب العلم فهو في سبيل الله حتى يرجع"

«څوک چې د علم زده کړې پسې ووت نو هغه د الله په لار کې دی تر دې چې بيرته راوګرځي». ترمذي ويلي دي: دا حديث حسن غريب دی. شيخ ويلي: د علم زده کړه او نورو ته ښودل په جهاد کې شامل دي او دا يې يو ډول دی، او وايي: د ذې الحجې مياشتې لس وروستۍ ورځې شپه او ورځ په عبادت کې تېرول له هغه جهاد څخه غوره دي چې په ځان او مال سره نه وي شوی، او له احمد څخه روايت دی: هيڅ شی د حج په څېر ندی، د هغه سترتيا او مشاعرو له امله چې پکې دي او په هغه کې داسې يو صحنه ده چې په اسلام کې يې بيلګه نه ليدل کيږي: د عرفې نيمه پاتې ورځ او دا چې مالي او بدني دواړه سترتياوي پکې وي، او له ابو امامة څخه روايت دی وايي چې يو سړي له پيغمبر - صلى الله عليه وسلم - څخه پوښتنه وکړه چې کوم يو له عملونو څخه غوره دی؟ هغه وفرمايل:

"عليك بالصوم فإنه لا مثل له"

«روژه ونيسه، ځکه هيڅ شی يې په څېر نه شي کيدلی». دغه حديث احمد او نورو په حسن سند سره روايت کړی دی، شيخ ويلي: هر عمل ځانته په يو وخت کې غوره والی لري ځکه پيغمبر صلى الله عليه وسلم او راشدينو خلفاوو د وخت، حال او مصلحت سره سم تر سره کړي دي، او په څېر يې د احمد قول دی: وګوره چې زړه دي کوم يو غواړي نو تر سره يې

کړه، او احمد فکر کول پر لمانځه او صدقې غوره ګڼلي، نو لدې جوتیږي چې د زړه عمل د اندامونو له عمل څخه غوره دی. او د علماوو موخه هم د اندامونو عمل دی چې دا حدیث یې هم تاییدوي:

"أحب الأعمال إلى الله الحب في الله والبغض في الله"

«الله ته خوښ عملونه، د الله لپاره دوستي او دښمني کول دي». او دا حدیث:

"أوثق عرى الإيمان" .

«د ایمان خورا مضبوطې کړی»

هغه نفلي لمونځونه چې زیات ټینګار پرې شوی د کسوف لمونځ، وتر او بیا د سهار سنت دي، بیا د ماښام سنت، بیا وروسته د نورو وختو سنت لمونځونه دي، د وتر لمانځه وخت له ماخوستن څخه د سهار تر ختلو پورې دی، خو غوره ده چې د شپې په وروستۍ برخه کې وشي د هغه چا لپاره چې ډاډمن وي د شپې راپاڅېدلی شي، که نه نو له ویده کېدو څخه مخکې دې وکړي، لږ یې یو رکعت او ډیر یې یوولس رکعته دي، غوره دا ده چې په دوه رکعتونو سلام وګرځوي بیا وروسته ځانته یو رکعت وکړي، که لدې پرته یې په بله طریقه وکړل چې له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه ثابته وي نو ښه ده، او تر ټولو کم پوره درې دي، او غوره ده چې په دوو سلامونو وشي خو په یو سلام یې کول هم جایز دي، او د ماښام د لمانځه په څېر هم جایز دي.(درې رکعته وتر د ماښام د لمانځه په شان کولو څخه منعه راغلې عن ابی هريرة عن النبی-صلی الله علیه و سلم-قال:لا توتروا بثلاث اوتروا بخمس او سبع ولاتشبهوا بصلاة المعرب)ابو هریره د رسول الله -

صلى الله عليه و سلم څخه روايت کوي چې فرمايلي يې دي:درې رکعته وتر مه کوئ پنځه او يا اوه رکعته وتر وکړئ او د ماښام د لمانځه په شان يې مه کوئ(درې رکعته)نيل الاوطار ج۳:ص۴۲

راتبه سنت لس رکعتونه دي او کول يې په کور کې غوره دي: دوه رکعته د ماسپښين له فرضو څخه مخکې او دوه ترې وروسته، دوه رکعته د ماښام له فرضو نه وروسته، دوه د ماخوستن له فرضو نه وروسته او د سهار دوه رکعته.

او د سهار سنت به لنډ کوي او په دواړو کې به د اخلاص سورت وايي، او يا به په لومړي کې د الله تعالى دا قول وايي:(لمړي رکعت کې سورة الكافرون او دوهم رکعت کې سورة الاخلاص ويل کيږي)

{ قولوا آمنا بالله وما أنزل إلينا }

{ قولوا آمنا بالله وما أنزل إلينا } هغه آيت چې د البقرې په سورت کې دی او په دويم رکعت کې به:

{ قل يا أهل الكتاب تعالوا إلى كلمة سواء بيننا وبينكم } الآية

{ قل يا أهل الكتاب تعالوا إلى كلمة سواء بيننا وبينكم } وايي او کولی شي په سپرلی د پاسه يې هم وکړي.

او د جمعې لپاره مخکې سنت نشته، او وروسته ورڅخه دوه او يا څلور رکعته کيږي، او د سنت پر ځای تحية المسجد منل کيږي او جايز دي ورته چې د سنتو او فرض لمونځ تر منځه په خبرو کولو او يا ودريدلو سره جداوالی راولي، دليل يې د معاوية حديث دی، او له چا چې لدې څخه څه شی قضا

شو نو ورته مستحب دي چې قضا يې راوړي، او د اذان او اقامت تر منځه نفل لمونځ مستحب دی.

او تراويح سنت دي چې پيغمبر صلى الله عليه وسلم کړي دي او په جماعت سره کول يې غوره دي، امام به پکې قراءت په جهر سره لولي، ځکه چې وروستيو له سلفو څخه رانقل کړي دي او په هرو دوو رکعتونو به سلام ګرځوي دليل يې دا حديث دی:

"صلاة الليل مثنى مثنى"

«د شپې لمونځ دوه دوه رکعته دی» او وخت يې له ماخوستن څخه وروسته دی او سنت يې له وترو څخه مخکې کيږي، وتر د سهار تر راختلو پورې کيږي، خو وتر به د دوه رکعته سنتو څخه وروسته کوي، خو که چېرته يې تهجد کول نو وتر دې بيا وروسته ترې وکړي دليل يې د پيغمبر صلى الله عليه وسلم قول دی:

"اجعلوا آخر صلاتكم بالليل وتراً"

«د شپې وروستى لمونځ مو وتر(تاق) وکړئ». که يې غوښتل چې وروسته تهجد وکړي او لمونځ يې د امام سره کاوه نو کله چې امام سلام وګرځوي دا دې پورته شي او بل رکعت دې ورسره يو ځای کړي، دليل يې د پيغمبر صلى الله عليه وسلم قول دی:

"من قام مع الإمام حتى ينصرف كتب له قيام ليلة" صححه الترمذي .

«څوک چې له امام سره تر پايه پاتې شيد ټولې شپې قيام ورته ليکل کيږي» دا حديث ترمذی صحيح ګڼلی دی.

د قرآن کریم حفظول په اجماع سره مستحب دي او دا له ټولو اذکارو غوره دی، او دومره اندازه حفظول یې واجب دي چې په لمانځه کې یې وېل واجب دي او ماشوم ته به یې سرپرست په زده کړې له پیل وړاندې ورښایې مګر دا چې ورته سخت وي او په هره اونۍ کې یې ختمول سنت دي او کله هم لدې نه په لږ وخت کې او د لوستلو ځنډول یې حرام دي که چېرته یې ویره درلوده چې ورڅخه به هېر شي، د قراءت په پیل کې به اعوذ با الله وایې او تل به هڅه کوي چې نیت یې ښه وي او هر هغه څه چې نیت یې خرابوي لرې دې کړي او په ژمي کې به ختم د شپې په لومړۍ برخه او په اوړي کې د ورځې په لومړۍ برخه کې کوي. طلحه بن مصرف ویلي: د دې امت غوره خلک مې ولیدل چې دا کار یې مستحب ګڼلو ویيل به یې: کله چې د ورځې په سر کې ختم وکړي نو تر بیګا پرې ملایکې درود وایي او کله چې د شپې په سر کې ختم وکړي نو تر سبا پرې ملایکې درود وایي. دارمي له سعد بن أبی وقاص څخه روایت کړی دی، اسناد یې حسن دی. قران به په خوږ غږ او ترتیل سره لولي، او په خشوع او تدبر سره به یې لولي، د رحمت له آیت سره به له الله تعالی غوښتنه کوي، او د عذاب له آیت سره الله ته پناه وړي، کله یې چې د لمونځ کوونکو، ویدو خلکو او نورو تلاوت کوونکو په شتون کې لوسته نو په جهر به یې نه لولي تر څو یې آذار نه کړي، او کولی شي په ولاړه، ناسته، ملاسته، په سپرلۍ او یا د مزل کولو په حال کې یې تلاوت کړي. او په لاره لوستل او یا له وړې بې اودسۍ سره یې لوستل مکروه ندي، خو په ناپاکو ځایونو کې یې لوستل مکروه دي.همدا رنګه د تلاوت لپاره

راغونډېدل او لوستونکي ته غوږ نیول مستحب دي، او هغه خبرې چې ګټه نه لري د تلاوت پر مهال به یې نه کوي، او د احمد په اند په تیزۍ (سرعت) سره یې لوستل مکروه دي، همدا رنګه یې په ترنم سره لوستل چې سندرو ته ورته وي مکروه ګڼلي، او د آیت تکراري لوستل مکروه ندي، او چا چې په قران کې خپله رایه وکاروله او یا یې بې علمه وینا وکړه؛ نو ځانته دې په اور کې ځای وټاکي، که په حقه وو هم خطا دی(د ړوند ګوزار دی).

بې اودسه ته جایز ندي چې مصحف په لاس کې واخلي، خو کولی شي د یو شي په واسطه یې راپورته کړي او یا هغه شی چې مصحف پکې ایښی وي راپورته یې کړي او یا په لستوڼي، او کولی شي چې په لرګي (ډکي) او یا کوم بل شي سره یې پاڼې واړوي، همدا رنګه تفسیر او هغه کتابونه چې د قرآن آیتونه پکې وي راالخستلی شي، او بې اودسه ته د مصحف لیکل او اجوره پرې اخستل جایز دي پرته لدې چې لاس یې ورسره ولګیږي، او جایز دي چې له وریښمو پوښ ورکړل شي، قران کریم ته شا اړول او یا طرف ته یې پښې غځول او داسې نور کارونه چې د قرآن کریم حرمت پکې تر پښو لاندې کیږي جایز ندي. او په سرو او سپینو زرو د مصحف سینګارول، د عشرونو(لسیزو)، د سورتونو نومونه، د آیتونو شمېر او داسې نور شیان چې د صحابه په وخت کې نه و؛ لیکل یې مکروه دي

او په نا پاکه شي د قرآن کریم لیکل او یا هغه کلمات چې د الله یاد پکې وي حرام دي، که چېرته پرې ولیکل شو نو وینځل

يي واجب دي، كله چې مصحف د ډيرې کاروني له امله زيات زوړ شو چې نور د ګټې اخستلو نه و بايد په يو محفوظ ځای کې خښ کړل شي، ځکه عثمان رضي الله عنه مصحفونه د قبر او منبر تر منځه ښخ کړل(سيرت خو د عثمان-رضی الله عنه- څخه نقل دي چې هغه کله په يو قرءت باندې مصحف وليکه نو هغه حکم وکړ چې پدې قرءت به قران لولئ او نور مصاحف يې د مصلحت په بنا وسيزل).

د نفلي لمونځونو کول مطلقا په ټولو وختونو کې جايز دي، پرته له هغه وختونو چې منع ترې راغلې ده، او د شپې لمانځه ته هڅول شوي دي، او هغه د ورځې له لمانځه څخه غوره دی، او غوره ده چې له خوب کولو وروسته وشي، ځکه ناشئة الليل همدې ته ويل کيږي چې سړی ورته له خوبه راپاڅيږي، نو کله چې راويښ شو الله دې ياد کړي او هغه څه دې ووايي چې رانقل شوي دي؛ چې ځنې يې دا دي:

"لا إله إلا الله وحده لا شريك له له الملك وله الحمد وهو على كل شيء قدير ، الحمد لله وسبحان الله ولا إله إلا الله والله أكبر ولا حول ولا قوة إلا بالله"

"لا إله إلا الله وحده لا شريك له له الملك وله الحمد وهو على كل شيء قدير ، الحمد لله وسبحان الله ولا إله إلا الله والله أكبر ولا حول ولا قوة إلا بالله" بيا يې که وويل: اللهم اغفر لی، او يا يې دعا وکړه قبوله به شي، او که اودس او لمونځ يې وکړ نو لمونځ به يې قبول شي بيا به ووايي: الحمد لله الذی أحيانا بعد ما أماتنا و اِليه النشور، لا ِاله اِلا أنت وحدک لا شريک لک سبحانک أستغفرک لذنبی وأسألک رحمتک. اللهم زدني

علماً ولا تزغ قلبي بعد إذ هديتني وهب لي من لدنك رحمة إنك أنت الوهاب، الحمد لله الذي ردّ علي روحي وعافاني في جسدي وأذن لي بذكره. بيا به مسواک ووهي، نو کله چې لمانځه ته پاڅېده که يې غوښتل نو د فرضي لمانځه په څېر دې سبحانک اللهم ... ووايي او يا يې بل څه سره غوښتل چې پيل يې کړي لکه:

"اللهم لك الحمد أنت نور السموات والأرض ومن فيهن ولك الحمد أنت قيوم السموات والأرض ومن فيهن ولك الحمد أنت ملك السموات والأرض ومن فيهن ولك الحمد أنت الحق ووعدك الحق وقولك الحق ولقاؤك حق والجنة حق والنار حق والنبيون حق والساعة حق ، اللهم لك أسلمت وبك آمنت وعليك توكلت وإليك أنبت وبك خاصمت وإليك حاكمت فاغفر لي ما قدمت وما أخرت وما أسررت وما أعلنت وما أنت أعلم به مني أنت المقدِّم وأنت المؤخر لا إله إلا أنت ولا قوة إلا بك"

(يا الله زمونږ ربه! ټول ثنا او ستاينه تا لره ده، ته د آسمانونو او د ځمکې پالونکی يې، او ستاينه او صفت تا ته دی، ته د آسمانونو او د زمکې او هغه څه چې په دې دواړو کې دي، رب (څښتن) يې، او ثنا او ستاينه تا ته دي، ته د آسمانونو او د ځمکې او د هغو څه چې په دې دواړو کې دي رڼا کونکی يې، ته حق يې، او ستا وينا هم حق (رښتيا) ده، او ستا ژمنه هم حق ده، او له تا سره مخامخ کېدل هم حق دي، او جنت هم حق دی، او اور (د جهنم) هم حق دی، او قيامت هم حق دی، يا الله! ما تاته غاړه اېښې ده، او پر تا مې ايمان راوړی، او پر تا مې توکل کړی، او تا ته مې جګړه دروړې، او پر تا فيصله کوم، نو ما ته بخښنه وکړه له هغو ګناهونو چې ما مخکې ګړي

او وروسته رانه کېږي، او هغه چې ما پټ او ښکاره کړي، ته مخکې کوونکی او وروسته کوونکی ذات يې، نشته په حقه سره معبود پرته له تا، او له تا پرته بل څوک د عبادت وړ نشته). او که يې خوښه وه نور (لاندې الفاظ) دې هم ورزيات کړي.

"اللهم رب جبريل وميكائيل وإسرافيل فاطر السموات والأرض عالم الغيب والشهادة أنت تحكم بين عبادك فيما كانوا فيه يختلفون اهدني لما اختلف فيه من الحق بإذنك إنك تهدي من تشاء إلى صراط مستقيم" .

"اللهم رب جبريل وميكائيل وإسرافيل فاطر السموات والأرض عالم الغيب والشهادة أنت تحكم بين عبادك فيما كانوا فيه يختلفون اهدني لما اختلف فيه من الحق بإذنك إنك تهدي من تشاء إلى صراط مستقيم" ای د جبريل، ميکائيل او اسرافيل ربه! د زمکې او آسمانونو پيدا کوونکيه، په پټو او ښکاره و خبر ذاته، ته پريکړه کوې د خپلو بندګانو تر منځه په هغه څه کې چې هغوی پکې يو له بل سره مخالفت لري، کله چې خلک ستا په اجازې سره حق ته درسيدو لپاره يو له بل سره مخالفت کوي نو ماته سمه لار راوښيه، په رښتيا ته نېغې لارې ته لار ښوونه کوې هغه چاته چې وغواړې.

او سنت طريقه دا ده چې د تهجدو پيل په دوو لنډو رکعتونو سره وکړي، د دې لپاره چې په دوامداره توګه يې وکړي، او کله چې ترې پاتې کيږي نو قضا يې راوړي.

او مستحب دي چې سهارني او بيګاني، د ويده کيدو او راپاڅېدو پرمهال، کور ته د ننوتلو او راوتلو پر مهال او داسې

نورو وختونو او ځایونو کې مسنون اذکار ووایي، او نفلي لمونځ په کور کې غوره دی، او باید چې تېنګار پرې وشي که چېرته هغه لمونځ و چې په جماعت سره نه کېده، حال دا چې څه خبره نشته که نفلي لمونځ په جماعت سره وشي پدې شرط چې عادت و نه ګرځول شي، او مستحب دي چې سهار مهال ډېر استغفار وویل شي، او که له چانه تهجد قضا شوي وي نو د ماسپښین له لمانځه څخه دې یې مخکې راوګرځوي، او په ملاسته د نفلو کول صحیح ندي.

او د څاښت لمونځ هم سنت دی، وخت یې د منع شوي وخت له پای ته رسیدو وروسته پیلیږي او له زوال څخه مخکې پای ته رسیږي، هغه وخت یې کول غوره ده چې لمر ښه راسور شي، او هغه دوه رکعته دي او که زيات شول نو ښه ده.

د استخارې لمونځ سنت دی، کله یې چې د یو کار کول غوښتل نو له فرضو نه پرته دې دوه رکعته لمونځ وکړي او بیا دې ووایي:

"اللهم إني أستخيرك بعلمك وأستقدرك بقدرتك وأسألك من فضلك العظيم فإنك تقدر ولا أقدر وتعلم ولا أعلم وأنت علام الغيوب ، اللهم إن كنت تعلم أن هذا الأمر - ويسميه بعينه - خير لي في ديني ودنياي ومعاشي وعاقبة أمري ( عاجله وآجله ) فاقدره لي ويسره لي ثم بارك لي فيه وإن كنت تعلم أن هذا الأمر شر لي في ديني ودنياي ومعاشي وعاقبة أمري فاصرفه عني واصرفني عنه واقدر لي الخير حيث كان ثم رضني به"

"اللهم إني أستخيرك بعلمك وأستقدرك بقدرتك وأسألك من فضلك العظيم فإنك تقدر ولا أقدر وتعلم ولا أعلم وأنت علام

الغيوب، اللهم إن كنت تعلم أن هذا الأمر - هغه کار چې دی يې
غواړي دلته يې بايد يادونه وکړي- خير لي في ديني ودنياي
ومعاشي وعاقبة أمري ( عاجله وآجله ) فاقدره لي ويسره لي
ثم بارك لي فيه وإن كنت تعلم أن هذا الأمر شر لي في ديني
ودنياي ومعاشي وعاقبة أمري فاصرفه عني واصرفني عنه
واقدر لي الخير حيث كان ثم رضني به." ای الله! زه له تانه
مشوره او د خېر غوښتنه کوم، ستا له کامل او پوره علم او
لوی قدرت څخه د پرېکړې غوښتنه کوم، او ستاد لوی فضل
څخه ستا نه غواړم، بې له شکه چې ته په هر څه ځواکمن يې
او زما هيڅ په وس پوره ندي، ته په هر څه ښه پوهېږې زه نه
پوهيږم. ای الله! که ستا په علم کې وي چې دا کار زما لپاره په
دنيا او اخرت کې ګټور دی نو راته يې غوره کړې، آسان او
برکتي يې کړي، او که ستا په علم کې وي چې دا کار زما لپاره
په دنيا او اخرت کې ګټور ندی نو له ما يې چپ کړې او په
کوم کار کې چې زما لپاره خېر وي هر چېرې چې وي ما پرې
ښاد او خوښ کړې. بيا دې مشوره وکړي، او د استخارې پر
مهال بايد د کولو او يا نه کولو هوډ و نه لري، (يعنې ټول واک
او اختيار دې الله ته وسپاري).

تحية المسجد او له اودس نه وروسته لمونځ کول ( او د
ماښام او ماخوستن تر منځ وخت په عبادت تېرول) سنت دي.
او د تلاوت سجده موکد سنت ده؛ واجب نده، دليل يې د ابن
عمر قول دی: چاچې سجده وکړه ثواب يې وشو او چا چې ونه
کړه نو ګناه پرې نشته، په موطأ کې يې روايت کړی دی، دا
سجده د هغه چا لپاره چې غوږ يې نيولی وي سنت ده. څوک
چې په سپرلۍ و که مخ يې هر لورې ته و په اشاره دې سجده

وکړي، روان به په زمکه د قبلې لورې ته سجده کوي او اوریدونکی به سجده نه کوي د هغه روایت له مخې چې له صحابه و څخه راغلی دی، ابن مسعود یو تلاوت کونکي هلک ته وویل: سجده وکړه ځکه چې ته زمونږ امام یې.

د هر نوي، ښکاره، عام او یا ځانګړې نعمت پر مهال د شکر سجده مستحب ده. او کله چې داسي یو څوک وګوري چې الله په دین او بدن کې امتحان کړی وي نو ودې وایې: الحمد لله الذی عافاني مما ابتلاک به و فضلني علی کثیر ممن خلق تفضیلا. ثنا او صفت الله لره دي؛ هغه ذات چې زه یې ژغورلی یم له هغه( مصیبت) څخه چې ته یې پرې اخته کړی یې، او په خپلو ډیرو مخلوقاتو یې غوره والی راکړی دی.

د نهي وختونه ( چې له لمانځه څخه پکې منع راغلې ده) پنځه دي: د سهار له لمانځه څخه وروسته تر دې چې لمر راوخیژي، او کله چې لمر راوخیژې تر دې چې د یو غشي په اندازه پورته شي، کله چې لمر د اسمان په منځ وي تر دې چې زوال وکړي، او د مازدیګر له لمانځه څخه وروسته، تر دې چې لمر ډوبېدو ته نږدې شي، او له هغه څخه وروسته تر دې چې ډوب شي، او د فرضي لمونځونو قضا راوړل پدې وختونو کې جایز دي، د نذر پر ځای کول، د طواف دوه رکعته، او د جماعت راګرځول کله چې ودریږي او دی په جومات کې وي ، او د جنازې لمونځ په دواړو اوږدو وختونو کې کیږي.

دا باب د جماعت (جمعې)د لمانځه په اړه دی.

د جماعت لپاره لږ تر لږه د دوه نفرو شتون شرط دی، پرته د جُمعې او اختر له لمونځونو څخه، حکم يې په ټولو واجب دی، که د سفر او يا اقامت په حالت کې وي آن که د ويرې په حالت کې هم وي، الله تعالى فرمايلي:

{ وإذا كنت فيهم فأقمت لهم الصلاة } الآية

[کله چې د مسلمانانو په منځ کې او دجنګ په حالت کې په لمانځه ولاړ وې] ايت. په جماعت سره لمونځ کول د منفرد په پرتله اوه ويشت درجې فضيلت لري، او جماعت په مسجد کې اداء کيږي. عتيق ( ازاد د امامت لپاره د مريي په پرتله) غوره دی، همدا رنګه هغه جماعت غوره دی چې د لمونځ کوونکو شمېر پکې زيات وي همدارنګه چې مسجد په لرې واټن کې وي، د رسمي امام په شتون کې به څوک د جماعت لپاره پرته د امام له اجازې څخه نه مخکې کيږي، مګر دا چې ناوخته کړي نو بيا مخکې کېدل مکروه ندي، دليل يې د أبو بکر او عبد الرحمن بن عوف عمل دی. کله چې لمونځ ودريده نو په نفلو ودريدل جايز ندي، او که چيرته جماعت ودريده او دی په نفلو کې و نو پوره دې کړي خو لنډ به يې کوي، چا چې له امام سره يو رکعت لاندې کړ؛ جماعت يې لاندې کړی دی، جماعت د امام سره په رکوع لاندې کولو لاندې کيږي، او تحريمه تکبير د رکوع د تکبير ځای نيسي دليل يې د زيد بن ثابت او ابن عمر عمل دی او له صحابه کرامو څخه د دوی دواړو مخالفت هيچا ندی کړی. او د دواړو تکبيرونو راوړل غوره او د هغه چا له مخالفت نه د وتلو غوره لار ده چې واجب يې ګڼي، که چيرته له امام سره د رکوع نه وروسته يو ځای شو نو رکعت يې ندی نيولی او د امام متابعت پرې لازم دی،

د هغه چا رکعتونه چې پاتې وي تر هغه به نه پورته کيږي تر
څو چې امام دواړو لورو ته سلام نه وي ګرځولی، که چېرته
يې امام د سهوې د سجدې پر مهال لاندې کړ، نو ندي ورسره
يو ځای کيږي او که چېرته تري جماعت تللی و نو ورته
مستحب دی چې لمونځ ورسره وکړي، دليل يې د پيغمبر صلی
الله عليه وسلم قول دی:
"من يتصدق على هذا فيصلي معه"
"من يتصدق على هذا فيصلي معه" پر ده به څوک صدقه
وکړي چې لمونځ ورسره وکړي. پر مقتدي د قراءت وېل
واجب ندي، دليل يې د الله تعالی دا قول دی:
{ وإذا قريء القرآن فاستمعوا له وأنصتوا لعلكم ترحمون }
{وإذا قريء القرآن فاستمعوا له و أنصتوا لعلكم
ترحمون}.او کله چې قرآن لوستل کيږي، نو تاسو هغه په غور
سره اورئ او خاموشه اوسئ، د دې لپاره چې پر تاسو رحم
وکړی شي. احمد ويلي: پدې د ټولو اجماع ده چې دا آيت د
لمانځه په اړه نازل شوی. په خفيه لمونځونو کې د قراءت
لوستل د صحابه کرامو او تابعينو ډيری علماووپه اند سنت
دي، دوی پدې اند دي چې په خفيه لمونځونو کې د امام پسې
قراءت وېل شته د هغه چا خلاف چې لوستل يې واجب ګڼي او
پدې سره اختلاف هم له منځه ځي، مګر د دلايلو پر اساس يې
پريږدو هغه مهال چې امام لمونځ په جهر کوي، او د جماعت
لمانځه پر افعالو به له امام څخه وروسته پيل کوي پرته لدې
چې وروسته ورڅخه پاتې شي، او يو ځای ورسره بنکته
پورته کېدل مکروه دي، او ورڅخه مخکې کېدل حرام دي،

که چېرته يې سهواً ورځخه مخکې رکوع او يا سجده وکړله بېرته دې راوګرځي او له امام پسې دې ادا کړي او که چېرته يې له پوهې سره بيا هم دا کار ونه کړ لمونځ يې باطل شو ، او که له امام څخه د عذر له امله په يو رکن کې وروسته پاتې شو نو مثال يې لکه پر امام د مخکې کېدونکي په څېر دی، او که چيرته د عذر له امله و لکه: خوب، بې پروايي او يا د امام د عجلې له امله نو رکن دې ادا کړي او بيا دې امام لاندې کړي، او که د عذر له امله ترې يو رکعت وروسته پاتې شو نو په نور لمانځه کې دې د امام متابعت وکړي او پاتې شوی رکعت دې د امام له سلام څخه وروسته راوګرځوي، او که چېرته داسې څه راپېښ شول چې له امله يې ځنې مقتديان لمونځ پرېښودلو ته اړ کيږي نو ورته پکار دي چې لمونځ لنډ کړي، خو په دومره چټکۍ سره يې کول چې نور مقتديان ورپسې رسيدنه و نه کړلای شي مکروه عمل دی.

د دويم رکعت په پرتله په لومړي رکعت کې قراءت اوږدول سنت دي، او امام ته مستحب دي چې ځنډ وکړي تر څو رکعت نيوونکي رکعت راونيسي، خو پدې شرط چې دا کار په مقتديانو سخت تمام نه شي.

د امامت لپاره لومړيتوب هغه څوک لري چې قران ښه لوستلی شي. او دا چې پيغمبر صلى الله عليه وسلم ولې ابو بکر صديق د أُبی او معاذ په شتون کې امامت ته مخکې کړ سره لدې چې هغوی ترې په قراءت کې زيات مهارت درلوده نو دا د دې لپاره تر څو هغوی ته وروښايي چې هغه د لوی امامت لپاره هم لومړيتوب لري، او نورو ويلي: د دې وينا سره چې

د خلکو امامت دې د قرآن ښه لوستونکي وکړي، که چېرته په قراءت کې سره برابر وو نو بيا دې په سنت ډېر پوه امامت وکړي، نو هغه پدې پوه وو چې ابوبکر تر ټولو ښه قران لوستونکی او په سنتو تر ټولو ښه پوه و، ځکه هغوی به تر هغه نور آيتونه نه زده کول تر څو به چې د زده شوو آيتونو پر معنا پوه نه شول او تر څو به يې چې عمل پرې نه و کړی لکه څرنګه چې ابن مسعود وايي: په مونږ کې به چې چا لس آيتونه زده کړل نورو ته به نه اوښته تر څو به يې چې د هغوی معنا نه وه زده کړې او عمل به يې پرې نه و کړی او د مسلم مرفوع روايت دی له ابو مسعود البدری څخه.

( يؤم القوم أقرؤهم لكتاب الله فإن كانوا في القراءة سواء فأعلمهم بالسنة فإن كانوا في السنة سواء فأقدمهم هجرة فإن كانوا في الهجرة سواء فأقدمهم سناً ) .

(يؤم القوم أقرؤهم لكتاب الله فإن كانوا في القراءة سواء فأعلمهم بالسنة فإن كانوا في السنة سواء فأقدمهم هجرة فإن كانوا في الهجرة سواء فأقدمهم سناً) د خلکو امامت به د قرآن غوره لوستونکی کوي، که چېرته په قراءت کې سره برابر وو نو پر سنتو پوه به يې کوي، که چېرته پر سنتو پوهه کې سره برابر وو نو بيا به يې په هجرت کې مخکښ کوي، که چېرته په هجرت کې سره هم برابر وو نو بيا به يې د ډېر عمر والا کوي).

او هيڅوک به د چا په کور کې امامت او د هغه پر ځای کېناستل نه کوي پرته د هغه له اجازې څخه، او په صحيحينو کې راغلي:

"يؤمكم أكبركم"
«ستاسو تر منځه به مو ستر امامت کوي». او د أبو مسعود په ځينو الفاظو کې راغلي: «که چيرته سره په هجرت کې برابر وو نو په اسلام کې مخکښ بايد امامت ته وړاندې شي».
چا چې په اجوره امامت وکړ لمونځ نه ورپسې کيږی، ابو داود ويلي، له احمد څخه د هغه امام په اړه پوښتنه وشوه چې وايي: روژه کې به درله په دومره او دومره امامت کوم نو ويې ېل: له الله څخه بخښنه غواړم ، او څوک به وي چې د ده تر شا لمونځ وکړي؟!. او څوک چې ودريدلی نه شي تر شا يې لمونځ نه کيږي مګر دا چې د کلي امام وي - او هغه د مسجد رسمي امام دی چې کله معيوب شو نو تر شا به يې لمونځ کوي، او کله چې امام لمونځ وکړ او بې اودسه و او يا پرې پليتي نښتي وه او د لمانځه وروسته پرې پوه شو، نو مقتديان به لمونځ نه راګرځوي خو امام به يې يوازې راګرځوی، او مکروه دي چې د داسي يو قوم امامت وشي چې ډيری خلک يې په حقه سره بد ګڼي او هغه مقتدي چې اودس يې کړی وي ورته جايز دي د هغه چا پسې لمونځ وکړي چې تيمم يې وهلی وي.
سنت دا دی چې مقتديان د امام شاته ودريږي، دليل يې د جابر او جبار حديث دی کله چې دوی دواړه د هغه ښي او چپ طرف ته ودريدل نو دواړه يې د لاسونو څخه ونيول او شاته يې ودرول. (دا حديث) مسلم روايت کړی دی او دا چې ابن مسعود د علقمة او الأسود تر منځه ولې په لمانځه کې ولاړ و جواب يې ابن سيرين داسې کړی چې هلته ځای تنګ و. که

چېرته مقتدي يو تن و نو د امام ښي لاس ته دې ودرېږي، او که يې چپ لاس ته ودريده نو ښي لورې ته دې راتاو کړي او پدې سره يې تحريمه تکبير نه باطلېږي، که چيرته مقتديان يو نارينه او بل ښځه وو نو نارينه دې ښي لاس او ښځه دې شاته ودرېږي، دليل يې د مسلم په روايت د أنس حديث دی او دا غوره ده چې صف امام ته نږدې وي همدارنګه غوره ده چې ټول صفونه يو بل ته نږدې وي او امام بايد د صف د منځ په برابرۍ ودرېږي.دليل يې د پيغمبر - صلی الله عليه وسلم - قول دی:

"وسطوا الإمام وسدُّوا الخلل"

«امام منځ ته کړئ او تش ځايونه بند کړئ» او په کوچني سره صف جوړول صحيح دي، دليل يې د أنس قول دی: زه او يتيم يې تر شا په صف کې ودريدلو او بوډۍ زمونږ تر شا ودريده، او که جلا يې لمونځ وکړ نه صحيح کيږي، او که چېرته مقتدي ته امام او يا ورپسې صفونه ښکارېږي لمونځ يې سم دی اګر که صفونه يو د بل پسې متصل نه وي، همدارنګه که يو هم و نهويني او تکبير واوري، ځکه د تکبير په اوريدلو سره ورپسې اقتدا کول امکان لري، نو ګويا داسي به وي لکه چې ګوري يې، خو که چيرته يې تر منځه لار وه او صفونه يو له بل څخه بېلېدل نو لمونځ يې نه صحيح کيږي، خو د الموفق ابن قدامه او نورو ټاکنه دا ده چې د صفونو په قطع کېدو سره د اقتدا مخنيوی نه کيږي او په دې اړه کوم دليل او يا اجماع نشته.

او مکروه عمل دی چې امام له مقتديانو څخه پورته (جګ) ودرېږي، ابن مسعود حذيفه ته وويل: آيا خبر نه وې چې

هغوی به لدې څخه منع کوله؟ ويې وېل: ولې نه. شافعي د ثقه راويانو په اسناد سره روايت کړی دی. او د ممبر د پاټکي په اندازه په لږ پورته ودريدو کې کومه خبره نشته، دليل يې د سهل حديث دی چې هغه صلى الله عليه وسلم په منبر په لمانځه ودريده بيا د سجدې لپاره په شا لاندې راکوز شو او سجده يې وکړه، الحديث او د متقدي په پورته ودريدو کې کومه خبره نشته، څکه ابو هريرة د جومات په سر د امام پسې لمونځ وکړ، شافعي روايت کړی دی. او د فرض لمانځه پسې ځای پر ځای د امام لپاره د نفلو کول مکروه دي، دليل يې د المغيره حديث دی په مرفوع روايت سره چې ابو داود روايت کړی دی خو احمد ويلي: دا حديث پرته له علي څخه له بل چا نه پيژنم، همدا رنګه مقتدي به له امام څخه مخکې نه رخصتيږي دليل يې د پيغمبر صلى الله عليه وسلم قول دی:

"لا تسبقوني بالركوع ولا بالسجود ولا بالانصراف" ،

"زما څخه په رکوع، سجده او رخصتيدو کې مه مخکې کيږئ" او له امام څخه پرته د بل چا لپاره په جومات کې د يو ځانګړي ځای ټاکل چې پرته له هغه ځايه په بل ځای کې فرض لمونځ نه کوي مکروه عمل دی څکه پيغمبر صلى الله عليه وسلم لدې څخه منع فرمايلي ده چې يو څوک دې د اوښ په څېر يو ټاکلی ځای ناستی ځانته وټاکي.

او د جُمعې او جماعت پرېښودلو کې هغه څوک معذور ګڼل کيږي چې ناروغ وي، د مال په ضايع کېدو ويريږي او يا دا چې د مال په ساتلو ګمارل شوی وي، څکه هغه سختي چې لدې امله ورسره مخ کيږي زياته ده لدې چې جامې يې په

باران سره لمدې شي چې هغه بیا په اتفاق سره عذر دی؛ دلیل یې د عمر قول دی: چې پیغمبر صلی الله علیه وسلم به د سفر پر مهال په سړه(یخه) او یا بارانۍ شپه کې خلکو ته لمانځه ته د بلنې پر مهال وویل: صلوا فی رحالکم، یعنې په خپلو استوګنځایونو کې لمونځونه وکړئ، دا حدیث دواړو (بخاري او مسلم) تخریج کړی دی، او دواړه له ابن عباس څخه روایتوي چې هغه صلی الله علیه وسلم خپل مؤذن ته د جمعې په ورځ چې باراني ورځ وه وویل: " کله دې چې أشهدُ أن محمداً رسول الله وویل: نو ورپسې داسې مه وایه چې: حيَّ على الصلاة،( یعنې لمانځه ته راشئ) بلکه ووایه: صلوا فی بیوتکم:یعنې په کورونو کې لمونځونه وکړئ" نو لکه خلکو چې دا خبره ښه و نه ګڼله، نو ویې ویل: دا کار زما څخه غوره چا؛ - یعنې رسول الله صلی الله علیه وسلم - کړی دی او ما بده وګڼله چې تاسې په خټو او چکړو کې له کورونو راوباسم. همدا رنګه جومات ته د هغه چا راتګ چې هوږه او یا پیاز یې خوړلی وي مکروه دي، آن که په مسجد کې هیڅوک هم نه وي، ځکه په بد بویۍ سره پرېښتې ازارېږي.

(دا باب د عذر د خاوندانو د لمانځه په اړه دی)

پر ناروغ واجب دي چې فرض لمونځ په ولاړه وکړي، دلیل یې د عمران حدیث دی

"صل قائماً فإن لم تستطع فقاعداً فإن لم تستطع فعلى جنب"

((په ولاړه لمونځ وکړه، که دې نشو کولی نو په ناسته یې وکړه، که دې نشو کولی نو په اړخ (ملاسته) یې وکړه)). دا حدیث امام بخاري روایت کړی دی. نسائي دا الفاظ ورزیات

کړي دي ( که دې نشو کولی نو، ستوني ستاق يې وکړه) او د رکوع او سجدې لپاره به د توان په اندازه په سر سره اشاره کوي، دليل يې د پيغمبر صلی الله عليه وسلم دا قول دی:
"إذا أمرتكم بأمر فأتوا منه ما استطعتم" .
(کله مې چې په يو کار درته امر وکړ، نو څومره چې ترې کولی شئ ويې کړئ)
همدا رنګه کله چې د باران، ختو او چکړو له امله د ککړيدو ويره وه نو پر سپرلۍ د پاسه چې ولاړه او يا روانه وي فرض لمونځ کيږي؛ دليل يې د يعلى بن أمية حديث دی چې ترمذي روايت کړي او ويلي دي: پدې حديث د اهل علمو په اند عمل کيږي.
مسافر به په ځانګړې توګه څلور رکعتي لمونځ لنډوي، او ورته روا دي چې په رمضان کې بوزه شي، خو که د مقيم پسې يې جماعت کاوه نو لمونځ به پوره کوي. او که چيرته د خپل ضرورت په خاطر استوګن شو او د ټاکلي اقامت نيت يې نه درلوده او پدې هم نه پوهېده چې کارونه به يې کله خلاص شي، يا دا چې باران او يا هم ناروغۍ ايسار کړ، نو تل به قصر کوي. او د سفر اړوند حکمونه څلور دي: قصر (لمونځ لنډول)، جمع (دوه وخته لمونځونه يو ځای کول)، مسحه کول، فطر (بوزه کېدل)
او د مسافر لپاره په يو وخت کې د ماسپښين او مازديګر، همدارنګه د ماښام او ماخوستن لمونځونه يو ځای کول روا دي(د دواړو لونځونو څخه د يو لمانځ په وخت کې مثلا و ماسپښين د لمانځه په وخت کې مازديګر ورسره يوځای کړې

او بالعکس همدا شان د ماښام د لمونځ سره ماخوستن وکړې او بالعکس-جمع التقديم و التاخير-). خو پرېښودل يې غوره دي، پرته له هغو کسانو چې په عرفه او مزدلفه کې لمونځونه يو ځای کوي، او پرته له هغه ناروغ ښځه چې په نه کولو ورته مشقت او سختي ورپيښيږي، ځکه پيغمبر - صلی الله عليه وسلم - پرته له ويرې او سفر ښځه لمونځونه جمع کړي دي، همدا رنګه د مستحاضې لپاره چې يو ډول ناروغي ده د لمونځونو يو ځای کول ثابت دي. د احمد دليل دا دی چې ناروغي له سفر ښځه سخته ده او ويلي يې دي: د لمونځونو يو ځای کول د اقامت په حالت کې د اړتيا او يا بوختيا له امله وي او وايي: پيغمبر صلی الله عليه وسلم صلاة الخوف(د ويرې لمونځ ) په شپږو او يا اوو طريقو روا کړی او تولې جالز دي، او د سهل حديث چې دی نو زه يې انتخابوم. او هغه د ذات الرقاع لمونځ دی

"طائفة صفت معه وطائفة وجاه العدو فصلى بالتي معه ركعة ثم ثبت قائماً وأتموا لأنفسهم ثم انصرفوا وصفوا وجاه العدو وجاءت الطائفة الأخرى فصلى بهم الركعة التي بقيت من صلاته ثم ثبت جالساً وأتموا لأنفسهم ثم سلم بهم . متفق عليه ، وله أن يصلي بكل طائفة صلاة ويسلم بها

يوه ډله ورسره ودرېدله او بله ډله د دښمن لورې ته شوه، نو هغه چې ورسره وه يو رکعت لمونځ يې پرې وکړ، خپله ولاړ پاتې شو، او هغوی شاته خپل لمونځ پوره کړ، بيا وګرځېدل او د دښمن لورې ته صف شول، هغه بله ډله راغله او پاتې رکعت يې له هغوی سره وکړ بيا همداسې ناست پاتې شو،

شاته خلکو خپل پاتې لمونځ پوره کړ بیا ورسره یو ځای شول او ورسره یې سلام وګرځاوه. دا حدیث متفق علیه دی، او دا هم روا دی چې هرې ډلې ته په جماعت سره جلا جلا لمونځ ورکړي او سلام وګرځوي. دا حدیث امام احمد، ابو داود او ترمذي روایت کړی. پدې لمانځه کې د وسلې اخستل مستحب دی، دلیل یې د الله تعالی قول دی:

{ ولیأخذوا أسلحتهم }

[او خپلې وسلې دې واخلي] او که وېل شوي و چې واجب دي نو دلیل به یې درلوده، د الله تعالی د دې قول له وجهې:

{ ولا جناح علیکم إن کان بکم أذی من مطر أو کنتم مرضی أن تضعوا أسلحتکم }

{او په تاسو څه ګناه نشته که تاسو ته د باران له امله ضرر رسیږي او یا ناروغه یاست چې خپلې وسلې کیږدئ}. او کله چې وېره ډېره شي، نو په پیاده او سواره لمونځ کوئ، قبلې ته مخامخ کیږئ او که نه ورته مخامخ کیږي، ځکه الله تعالی فرمایي:

{ فإن خفتم فرجالا أو رکباناً }

[که چېرته وېرېدئ نو پیاده او سپرلی باندې (لمونځ) وکړئ] د توان په اندازه به اشاره کوي، او سجده به د رکوع په پرتله لږه ټېټه وي، او که د امام متابعت نا ممکن وو نو جماعت کول ورته روا ندي.

(باب دی په بیان د جمعې د لمانځه کې)

هغه (د جمعې لمونځ) په هر مسلمان، بالغ، عاقل، نر، آزاد، پداسې یو ځای کې استوګن چې ټول ځای په یو نوم

یادیږي(کلی) فرض عین دی، او که داسې څوک ورته حاضر شو چې واجب پرې ندی هم ورڅخه منل کیږي، که یو رکعت یې راونیوه د جمعې لمونځ دې پوره کړي کنه د ماسپښین دې پوره کړي، او باید دوه خطبې ترې وړاندې وویل شي، پدې خطبو کې به د الله تعالی حمد او ثنا، دوه د شهادت کلمې، پر داسې څه وصیت چې زړونه ورپېردوي کوی او همدې ته خطبه ویل کیږي، یا به پر منبر او یا جګ ځای خطبه کوي، او کله چې خطبې ته راوځي او خلکو ته مخ کړي نو پر مقتدیانو به سلام اچوي، بیا به د اذان تر وخته پورې کښني، دلیل یې د أبو داود په روایت د ابن عمر حدیث دی. او د دوه و خطبو تر منځ به لنډه ناسته کوي لکه په صحیحینو کې چې د ابن عمر په حدیث کې راغلي، خطبه به په ولاړه کوي ځکه چې پیغمبر صلی الله علیه وسلم کړې ده، او مخې ته به ګوري او خطبه به لنډه کوي. د جمعې لمونځ دوه رکعته دی، قراءت به پکې په جهر سره لولي، په لومړي رکعت کې به الجمعه او په دویم کې به المنافقون سورتونه وایي، او یا به سبح اسم ربک الأعلی او الغاشیة سورتونه وایي پدې ټولو کې صحیح احادیث شته، د جمعې د ورځې د سهار په لمانځه کې به الم السجده او د الإنسان سورتونه وایي، او په دوامداره توګه د دې کار کول مکروه دي. او که اختر د جمعې په ورځ و د جمعې لمونځ له هغو ټولو ساقط شو چې د اختر لمانځه کې حاضر وو پرته له امام څخه چې له هغه نه جمعه نه ساقطیږي.

د جمعې له لمانځه څخه وروسته سنت دوه رکعته او یا څلور رکعته دي، او مخکې ترې سنت نشته، بلکه د نفلو کول مستحب دي څومره چې وغواړي، غسل کول، مسواک وهل

او خوشبويي لګول ورته سنت دي او تر ټولو ښايسته جامې به اغوندي، او بايد پيادل وختي جومات ته لاړ شي، او د دويم اذان په اوريدلو سره جومات لورې ته په خشوع او عاجزۍ سره خوځېدل واجب دي او امام ته به نږدې کېني، په دغه ورځ بايد زياته دعا وکړي پدې هيله چې د قبليدو له وخت سره سمون وخوري، ډيره هېلمندي شته چې د قبليدو وخت د مازديګر له لمانځه څخه وروسته د ورځې وروستۍ شيبه وي، نو د مازديګر له لمانځه څخه وروسته دې په طهارت سره د ماښام لمانځه ته انتظار وباسي نو دی به د لمونځ کوونکي حکم ولري. د جمعې د شپې او ورځې پر مهال به پر پيغمبر صلى الله عليه وسلم زيات درود وايي، د خلکو په اوږو اوړېدل مکروه دي مګر دا چې خالي ځای يې وليده او پرته لدې چې پر اوږو واوړي بله لار نلري، او بل څوک به له ځای څخه نه پاڅوي تر څو خپله پکې کښيني آن که مريی او يا زوی يې هم وي، څوک چې جومات ته ننوت او امام خطبه کوله نو نه به کيني تر دې چې دوه رکعته لنډ لمونځ وکړي، د امام د خطبې پر مهال به خبرې او ساعت تيري نه کوي، دليل يې د پيغمبر صلى الله عليه وسلم قول دی:

"ومن مس الحصى فقد لغا"

«چا چې تيږو کې لاس وواهه نو عبث کار يې وکړ». دا حديث ترمذي صحيح ګڼلی، او څوک چې خوب ويوړ له يو ځای څخه دې بل ځای ته لاړ شي، ځکه پيغمبر صلى الله عليه وسلم پدې امر کړی دی.

(دا باب داخترونو د لمونځونو په اړه دی)

که چېرته له زوال څخه وروسته پوه شو چې اختر دی، نو سبا ته دې خلک عیدګاه ته وباسي او لمونځ دې پرې وکړي، د لوی اختر لمونځ وختي او د کمکي اختر لمونځ ناوخته کول سنت دي، همدا رنګه د کمکي اختر لمانځه ته له وتلو وړاندې تاق عدد خرما خوړل سنت دي او په لوی اختر کې به تر هغه څه شی نه خوري تر څو يې چې لمونځ نه وي کړی، په کومه لار چې د اختر لمانځه ته تللی په بله لار به بیرته راګرځي، او سنت دي چې په نږدې بیدیا(صحرا) کې وشي، دوه رکعته لمونځ به کوي، (په لومړي رکعت به )تحریمه تکبیر وایي بیا به ورپسې شپږ تکبیرونه کوي او په دویم رکعت کې به پنځه تکبیرونه کوي د هر تکبیر سره به لاسونه پورته کوي او سبح اسم ربک الأعلی او الغاشیة سورتونه به پکې لولي، کله چې وزګار شو خطبه به وایي، نه به ورڅخه مخکي او نه هم وروسته نفل لمونځ کوي. په اخترونو کې د تکبیرونو ویل سنت دي، په جوماتونو او لارو کې به يې په ښکاره وایي، او په کلو او باندو کې به يې په جهر سره وایي، او د اختر په دوو شپو کې به پرې ډیر ټینګار کوي او کله چې د اختر لمانځه ته وځي او د ذی الحجې د میاشتې په لسیزه کې به په مطلقو تکبیرونو په لومړۍ ورځ څاښت مهال پیل کوي او مقید تکبیرونه به د عرفې په ورځ د سهار له لمانځه څخه وروسته پیلوي او د تشریق د وروستۍ ورځې تر مازدیګره پورې به يې وایي، او سنت دي چې د ذي الحجې په لسو ورځو کې د نیکو عملونو په تر سره کولو کې زیات زیار وویستل شي.

(باب دی په بیان د لمر د بې نوره کیدلو پر مهال لمونځ کولو کې)

وخت يې له كسوف څخه پيلېږي تر دې چې روښانه شي، كول يې مؤكد سنت دي؛ په سفر او اقامت دواړو كې كيږي تر دې چې ښځې به يې هم كوي، د الله يادول، دعا، استغفار، د مريي ازادول او صدقه وركول پكې سنت دي، كله چې لمونځ وشو او لمر/سپوږمي نه و روښانه شوی دويم ځل لمونځ نه كيږي، بلكه الله به يادوي، توبې به وباسي تر دې چې روښانه شي، او خلک ورته پدې الفاظو سره رابلل كيږي ( الصلاة جامعة ). دا لمونځ دوه ركعته په جهر سره كيږي، پدې كه به قراءت، ركوع او سجده اوږدوي، په هر ركعت كې دوه ركوع ګانې كيږي خو د دويمه ركوع به د اولې په پرتله لنډه وي، بيا به تشهد وايي او سلام به ګرځوي، كه چيرته روښانه شول نو ركعتونه دي لنډ كړي، د پيغمبر صلى الله عليه وسلم د دې وينا د وجې:

"فصلوا وادعوا حتى ينكشف ما بكم" .

*نو لمونځ او دعا وكړئ تر دې چې هغه څه درڅخه لرې شي چې درباندي راغلي».

(باب دی په بيان د باران د لمانځه كې).

د استسقاء لمونځ په اقامت او سفر كې مؤكد سنت دی، او طريقه يې د اختر د لمانځه په څېر ده، او سنت دي چې بايد د ورځې په لومړی برخه كې وشي، دې لمانځه ته به په ،خشوع، عاجزی او مات زړه سره وځي، دليل يې د ابن عباس حديث دی چې ترمذی صحيح ګڼلی دی، (امام) به خلكو ته لمونځ وركړي بيا به يوه خطبه ووايي او زيات استغفار به پكې وايي، زياته دعا به كوي او دواړه لاسونه به د دعا پر مهال پورته

کوي او وايې به: اللهم اسقنا غيثاً مغيثاً هنيئاً مريئاً مريعاً غدقاً مجللا سحاً عاماً طبقاً دائماً نافعاً غير ضار عاجلا غير آجل ، اللهم أسق عبادك وبهائمك وانشر رحمتك وأحيي بلدك الميت اللهم أسقنا الغيث ولا تجعلنا من القانطين ، اللهم سقيا رحمة لا سقيا عذاب ولا بلاء ولا هدم ولا غرق، اللهم إن بالعباد والبلاد من اللأواء والجهد والضنك ما لا نشكوه إلا إليك : "اللهم أنبت لنا الزرع ، وأدر لنا الضرع وأسقنا من بركات السماء وأنزل علينا من بركاتك اللهم إنا نستغفرك إنك كنت غفاراً فأرسل السماء علينا مدراراً" او مستحب دي چې د دعا پر مهال قبلې ته مخ کړي، بيا به څادر په څټ کړي داسې چې ښی به چپ او چپ طرف به يې ښي طرف ته واړوي، ځکه پيغمبر صلى الله عليه وسلم خلکو ته شا واړوله، مخ يې قبلې ته کړ بيا يې څادر په څټ کړ، دا حديث متفق عليه دی. او قبلې ته د مخ اړولو پر مهال به خفيه دعا کوي، که چېرته خلکو د لمانځه پسې يې د باران دعا وغوښته او يا د جمعې د په خطبه کې نو په سنت يې عمل کړی دی. او مستحب دي چې د باران په لومړيو شيبو کې ودرېږي؛ خپل د کور سامان او خپلې جامې وباسي تر څو پرې باران ووريږي، بيا به درې ته ووځي چې کله اوبه وبهېدې او اودس به وکړي او کله چې باران وګوري نو ودې وايي:

"اللهم صيباً نافعاً"

"اللهم صيباً نافعاً" ای الله! ګټور باران يې وګرځوې. او کله چې اوبه زياتې شوې او د باران د زياتېدو ويره پيدا شوه، مستحب دي چې ووايي:

( اللهم حوالينا ولا علينا اللهم على الظراب والآكام وبطون الأودية ومنابت الشجر )
( اللهم حوالينا ولا علينا اللهم على الظراب والآكام وبطون الأودية ومنابت الشجر )ای الله زمونږ څخه يې واړوه په مونږ يې بس کړه په کندوږ او ډيرکيو او خوړونو او د شينکو په ځيونو يې ووروه او د باران د وريدو پر مهال به دعا کوي او وايي به: مطرنا بفضل الله ورحمته، او کله چې وريځ وګوري او يا باد راوالوځي نو د الله نه دې د هغه د خير سوال وکړي او له شر څخه دې پناه وغواړي، او باد ته کنځل کول جايز ندي، بلکه داسې به وايي: اللهم إني أسألك من خير هذه الريح وخير ما فيها وخير ما أرسلت به وأعوذ بك من شرها وشر ما فيها وشر ما أرسلت به اللهم اجعلها رحمة ولا تجعلها عذاباً ، اللهم اجعلها رياحاً ولا تجعلها ريحاً ، او کله چې د برښنا او تندر غږونه واوري نو وايي به: اللهم لا تقتلنا بغضبك ولا تهلكنا بعذابك وعافنا قبل ذلك سبحان من سبح الرعد بحمده والملائكة من خيفته، او کله چې د خره هنګا او د سپي غپا واوري نو اعوذ بالله من الشيطان الرجيم دې ووايي، او کله چې د چرګ اذان واوري نو د الله تعالی څخه دې د هغه د فضل سوال وکړي.(اللهم انی اسالک من قضلک) دې ووايې

(دا باب د جنازو په اړه دی)

په اتفاق سره درملنه روا ده او دا کار د توکل سره په ټکر کې ندی، داغل مکروه دي او پرهيز کول مستحب عمل دی، او په حرامو شيانو سره علاج کول ناروا دي که هغه د خوراک په ډول وي او که د څښاک او که يا ناروا اوازونه

وي (لکه سندرې وغیره)، د پیغمبر صلی الله علیه وسلم د دې وینا له وجې: «په حرامو سره درملنه مه کوئ» بندونه حرام دي، او هغه عبارت له تعویذ او یا سورۍ شوې مرۍ څخه دي چې په غاړه کې اچول کیږي، د مرګ زیات یادول او چمتوالی نیول ورته پکار دي، او د ناروغ پوښتنه کول، او که ناروغ د خپلې ناروغتیا په اړه خلکو ته څه وایي کومه خبره نده خو شکایت به نه کوي وروسته لدې چې د الله تعالی ثنا یاده کړي، او الله ته صبر کول لازم دي، الله تعالی ته شکایت کول د صبر سره په ټکر کې عمل ندی، بلکه انسان باید دا کار وکړي او باید په الله تعالی نیک ګمان وکړي، او د مرګ هیله به نه کوي د هغې ناروغتیا له امله چې پرې راغلې ده، او څوک چې د مریض پوښتنې ته ځي د روغتیا دعا به ورته کوي، او که چېرته یې ځنکدن و نو مستحب ده چې "لا إله إلا الله" ورته تلقین شي، او قبلې ته یې مخ شي، کله چې وفات شو باید سترګې پرې پټې شي، او کورنی به یې پرته له نیکو ویناوو بل څه نه وایي، ځکه پرښتې پر هغه څه آمین وایي چې دوی یې وایي، بیا به په یوې تکې سره پټ کړای شي، او د قرضونو په خلاصولو یې باید تلوار وشي، او غاړه یې خلاصه شي، که نذر او یا کفاره پرې پاتې وي باید ترې ادا شي، دلیل یې دا قول د نبی کریم صلی الله علیه وسلم دی:

"نفس المؤمن معلقة بدينه حتى يقضى عنه"

«د بنده روح د هغه له قرض سره تړلی وي تر دې چې ترې ادا کړی شي» ترمذي حسن بللی دی. او سنت دي چې په چمتو

کولو یې تلوار وشي، دلیل یې د پیغمبر - صلی الله علیه وسلم - دا قول دی:

"لا ینبغي لجیفة مسلم أن تحبس بین ظهراني أهله"

«پکار نده چې د مسلمان جسد یې د کورنۍ تر منځ وځنډیږي»

(دا حدیث) ابوداود روایت کړی دی او نعی مکروه ده او هغه یې د مرګ اعلانول دي

مړي ته غسل ورکول، جنازه پرې کول، بارول، کفن ورکول او د قبلې لورې ته یې خښول فرض کفایي دي، او په دې کړنو د اجورې اخستل مکروه دي، او همدا رنګه له اړتیا پرته له خپل کلي نه بل ته د جنازې وړل هم مکروه دي، او سنت دي چې مړي ته غسل ورکوونکی لومړی د اودس په غړو پیل وکړي او لومړی یې ښي اړخونه ومینځي، هر غړی به درې او یا پنځه ځلې وینځي او یو ځل هم بسنه کوي، که چېرته حمل له څلورو میاشتو زیات و او ولویده غسل ورکول کیږي او جنازه پرې کیږي، دلیل یې د پیغمبر - صلی الله علیه وسلم - دا قول دی:

"والسقط یصلی علیه ویدعی لوالدیه بالمغفرة والرحمة"

«په (سقط) غورځیدلي لمونځ کیږي او مور او پلار ته یې د بخښنې او رحمت دعا غوښتل کیږي» ترمذي صحیح بللی او لفظ یې داسې دی: (او په کوچني لمونځ کیږي) چاته چې د اوبو د نشتون له کبله د غسل ورکول نه کېدل نو تیمم دې ورته ووهل شي، او کفن ورکولو کې واجب دي چې باید ټول بدن یې پټ شي، که چېرته یې بسنه نه کوله، عورت دې پټ کړای شي او بیا دې سر او خوا او شا پټ کړي او پاتې جسد دې په

غوږګو او پانږو سره پټ کړي، او د جنازې پر مهال به امام د نارینه مړي د سینې او ښځینه مړي منځ ته برابر ودرېږي او تکبیر به ووایي؛ فاتحه به ولولي بیا به تکبیر ووایي او په نبی صلی الله علیه وسلم به درود ووایي بیا به تکبیر ووایي او مړي ته به دعا وکړي او بیا به څلورم تکبیر ووایي او له لږ ځنډ وروسته به ښي لور ته سلام وګرځوي او د هر تکبیر سره به لاسونه پورته کوي، او پخپل ځای به پاتې شي تر دې چې پورته شي، دا له عمر څخه روایت شوي دي، او چا چې جنازه کې ګډون نه وي کړی ورته مستحب دي چې بیا پرې جنازه وکړي او له خښولو څخه وروسته یې پر قبر جنازه وکړي اګر که یو ټولی د خلکو هم وي دا کار تر یوې میاشتې کولی شي. او که په شپه کې خښ کړل شي باک نه لري، البته د لمر ختلو، لویدلو او کله چې لمر د آسمان په منځ وي خښول یې مکروه دي او سنت طریقه ده چې جنازه په بیړه ویوړل شي البته په ډېر تېز مزل سره نه، او د جنازې پسې دتلونکو لپاره کېناستل مکروه دي تر څو چې د خښولو لپاره جنازه ایښودل شوې نه وي، او ورپسې خلک به عاجزي کوونکي او د خپل راتلونکي په اړه فکر او سوچ کوي، او مسکا کول او په دنیوي چارو کې خبرې کول مکروه دي. او قبر ته د ننه کولو پر مهال مستحب دي چې د پښو له خوا ورننه شي البته که ستونزه نه وي، او مکروه دي چې د سړي قبر ته دې پرده ونیول شي او دسړي لپاره مکروه ندي چې د ښځې مړی خښ کړي او بیا محرم. (لحد غوره دی) له سملات څخه، او ډوبول او پراخول یې سنت دي، په تابوت کې یې خښول مکروه دي، او د سپارلو پر مهال به یې: بسم الله وعلی ملة رسول الله وایي، او د قبر

سره له دفن څخه وروسته په ولاړه دعا کول مستحب دي، او څوک چې حاضر ول ورته مستحب دي چې درې درې لپې خاورې پرې د سر لخوا واړوي.

د يوې لويشتې په کچه د قبر لوړول مستحب دي او له دې پورته کول يې مکروه دي، دليل يې علی - رضی الله عنه - ته د پيغمبر صلی الله عليه وسلم دا وينا ده:

"لا تدع تمثالا إلا طمسته ولا قبراً مشرفاً إلا سويته" .

*هيڅ مجسمه پرته له ورانولو او هيڅ لوړ قبر پرته له هوارولو مه پرېږده». (دا حديث) مسلم روايت کړی دی

اوبو پرې پاشل کيږي او وړې تږې پرې د خاورو د ساتلو لپاره ايښودل کيږي او په تيږه او يا کوم بل څه سره يې په نخښنه کول پروا نه لري، د هغه څه له امله چې د عثمان بن مظعون د قبر په اړه روايت شوي دي، د قبر پخول او د پاسه پرې ودانۍ جوړول ناروا دي، او د ودانيو ورانول واجب دي، او د قبر له خپلې خاورې پرته پرې نورې نه اړول کيږي ځکه لدې منع راغلې ده. (دا حديث) ابوداود روايت کړی دی د قبر ښکلول، جوړول، خوش بويه کول، د پاسه پرې کښناستل او اودس ماتی کول پرې ناروا دي، همدا رنګه د قبرونو تر منځ اودس ماتی کول هم ناروا دي. او پر قبر يې د روغتيا غوښتل، همدا رنګه د ډيوې روښانه کول او پرې د مسجد ودانول حرام دي او بايد چې ونړول شي، او له ځپليو/بوټانو سره به په هدېره کې نه ګرځي، د حديث د وجې نه. احمد ويلي: اسناد يې جيد دی.

او له سفر کولو پرته قبرونو ته ورتګ سنت دي، دلیل یې د پیغمبر - صلی الله علیه وسلم قول دی:

"لا تشد الرحال إلا إلی ثلاثة مساجد"

«دریو جوماتونو ته له تګ پرته نورو ځایونو ته د کړو تړل ناروا دي» او ښځو ته قبرونو ته تلل ناروا دي ، دلیل یې د پیغمبر - صلی الله علیه وسلم - دا قول دی:

"لعن الله زائرات القبور والمتخذین علیها المساجد والسرج"

«قبرونو ته پر تلونکو ښځو الله لعنت ویلی او هغه چې جوماتونه پرې ودانوي او ډیوې پرې روښانه کوي». سنن والاو روایت کړی دی. د قبر مسح کول(لاس پرې کښول)، نږدې ورسره لمونځ کول، او په وړاندې یې د دعا لپاره ورتګ مکروه او منکر کارونه دي بلکه د شرک له څانګو څخه دي، او څوک چې قبرونو ته ورځي او یا پرې تېرېږي داسې به وایي:

"السلام علیکم دار قوم مؤمنین وإنا إن شاء الله بکم لاحقون یرحم المستقدمین منّا ومنکم والمستأخرین نسأل الله لنا ولکم العافیة ، اللهم لا تحرمنا أجرهم ولا تفتنا بعدهم واغفر لنا ولهم"

.

«السلام علیکم دار قوم مؤمنین وإنا إن شاء الله بکم لاحقون یرحم المستقدمین منّا ومنکم والمستأخرین نسأل الله لنا ولکم العافیة ، اللهم لا تحرمنا أجرهم ولا تفتنا بعدهم واغفر لنا ولهم».

په ژوندي باندې د سلام پر مهال د معرفې او یا نکرې په صیغه سلام اچولو کې اختیار لري، پر سلام پیل سنت او

ځواب يې واجب دی(راجح قول دا دی چې سلام ويل او جواب ورکول دواړه واجب دي په حديثو کې د امر صيغې راغلي او مطلق امر وجوب افاده کوي)، او که څوک له چا سره مخ شو او سلام يې پرې واچاوه او بيا دويم ځل او دريم ځل ورسره مخ شو سلام به پرې اچوي، او د سلام پر مهال تېښېدل جايز ندي، او په بيګانه ښځې به سلام نه اچوي مګر که زړه وه چې اشتها ورته نه راتله، او د رخصتۍ ( له مجلس څخه ) دتلو پر مهال به هم سلام اچوي او کله چې خپلې کورنۍ ته ورداخل شو داسې به وايي:

اللهم إني أسألك خير المولج وخير المخرج بسم الله ولجنا وبسم الله خرجنا وعلى الله توكلنا

اللهم إني أسألك خير المولج وخير المخرج بسم الله ولجنا وبسم الله خرجنا وعلى الله توكلنا. او لاس ورکول سنت دي د أنس حديث يې دليل دی، او ښځې ته لاس ورکول روا ندي او په کوچنيانو به سلام اچوي، کوچنی به په لوی، لږ په ډېرو او سپور پر پياده سلام اچوي. که يو چا ورته د بل سړي سلام ورساوه، ورته مستحب دي چې ووايي: وعليک وعليه السلام، يعنې پر تا او هغه دواړو دې سلام وي

دوه نفره چې يو له بل سره مخ کيږي ورته مستحب دي چې هر يو يې د سلام پيلولو ته وړانديوالی وکړي او لدې الفاظو به نه زياتوي: السلام عليكم ورحمة الله وبركاته، او کله چې خوله وازی (اريږمی) وکړي نو تر خپلې وسې دې کوښښ وکړي چې تېر يې کړي که چيرته پرې غالب شو نو خپله خوله دې په يو څه سره بنده کړي، او کله چې پرنجی کوي نو

خپل مخ دې پټ او غږ دې بند کړي او الحمد لله دې په لوړ غږ سره ووايي ترې دې چې ورسره ناست خلک يې واوري، او اوريدونکی به يې وايي: يرحمک الله، بيرته به پرنجی کوونکی په جواب کې ورته ووايي: يهديکم الله ويصلح بالکم. او چا چې د پرنجي پر مهال الحمد لله ونه ويل، نو يرحکم الله ورته نه ويل کيږي، خو که چېرته يې دويم او دريم ځل پرنجی وکړ بيا دې ورته يرحمک الله ووايي او د روغتيا دعا دې ورته وکړي.

څوک چې د چا ځای ته وررننوځي نو د اجازې غوښتل پرې واجب دي، خواه که هغه خپلوان وي او يا بيګانه، نو که اجازه يې ورکړه( داخل دې شي) کنه بېرته دې وګرځي، اجازه غوښتل درې ځلې دي او لدې به يې نه زياتوي، او د اجازې غوښتلو طريقه داسې ده (چې ووايي): السلام عليکم. آيا راتلای شم؟ او هغه ځای کې کيني چېرته چې ناست خلک خلاص شي، او د دوه نفرو تر منځ به جداوالی نه راولي مګر په اجازه يې.

او مستحب دي چې غمجن ته د مړي تعزيت(به صبر مصيبت زده ته تلقين کول) وشي، او د تعزيت لپاره کېناستل مکروه دي، او کوم ځانګړې الفاظ ورته نشته، بلکه غمجن به صبر کولو ته هڅوي او د أجر يادونه به ورته کوي، مړي ته به دعا کوي، غمجن به داسې وايي: الحمد لله رب العالمين، إنا لله وإنا إليه راجعون اللهم أجرني في مصيبتي واخلف لي خيراً منها، او که د دې آيت پر مصداق يې عمل وکړ او لمونځ يې وکړ { واستعينوا بالصبر والصلاة } نو غوره ده، ابن عباس

دا کار کړی دی، صبر کول واجب دي، او په مړي ژړا کول مکروه ندي، خو چغې وهل اوستاینې کول حرام دي، او پیغمبر - صلی الله علیه وسلم له: صالقه، حالقه او شاقه څخه بېزاره دی؛ صالقه هغه ښځه ده چې د مصیبت پر مهال چغې وهي، حالقه هغه ښځه ده چې خپل سر خریي، او شاقة هغه ده چې خپلې جامې څېرې کوي او ښکاره بې صبري حرامه ده.

## (دا کتاب دی په بیان د زکات کې)

په ( اوښانو، غواګانو، میږو)، د زمکې حاصلاتو، نقدو، او سوداګریزو توکو کې په پنځه شرطونو واجب دی: اسلام، آزادي، د نصاب پوره کېدل، پوره ملکیت او یو کال پرې تېرېدل، او د کوچني او لیوني په مالونو کې واجب دی؛ له عمر، ابن عباس او نورو څخه روایت دی او هېڅ مخالف یې ندی پیژندل شوی. او هغه څه چې پر نصاب واوختل په شمېر سره یکې واجب دی مګر هغه عدد چې د دوو فرضو تر منځه وي (مثلا له پنځو اوښانو پورته تر نهو پورې)، او نه په هغه حیواناتو کې چې په ناټاکلي وقف شوي وي لکه جوماتونه، او هغه زمکه چې په ټاکلي وقف شوي وي له غلې څخه یې زکات ورکول کیږي، او څوک چې په مالداره قرض ولري لکه: قرض او مهر نو له هغې ورځې چې دی یې مالک شوی دی د زکات کلني جریان ته شاملیږي او هغه مهال به یې زکات ورکوي چې کله یې ټول او یا یوه برخه لاسته راوړه. همدا د صحابه و له اجماع څخه څرګندیږي، اګر که لاس ته راوړل شوی مال نصاب ته هم نه وي رسیدلی. او که له لاسته راوړلو یې وړاندې زکات ورکړي ترې قبلیږي ځکه چې د واجبېدو

سبب يې موندل شوی دی، خو تر لاسته راوړلو وروسته ورکول يې يو رخصت دی، نو دا د زکات د تعجيل( له وخته مخکې) ورکول ندي، او که چېرته يې يوه برخه د نصاب په لاس کې وه او نور يې قرض او يا ورک و نو هغه څه چې په لاس يې لري د هغه زکات دې وباسي، همدا رنګه په هغه قرض کې هم واجب دی چې په مالداره نه وي، او يا غصب شوی وي او هغه چې په سختۍ لاسته راوړل کيږي؛ کله يې چې لاسته راوړي دليل يې هغه عام روايتونه دي چې له علی او ابن عباس څخه روايت شوي دي، او کله يې چې د مال ګټه لاسته راوړه نو زکات پکې نشته تر دې چې کال پرې نه وي تېر شوی مګر د څرېدونکو حيواناتو بچي او د تجارت ګټه د ابن عمر د وينا له امله: (تازه زيږېدلی پرې وشمېره خو ترې اخله يې مه). دا حديث مالک روايت کړی دی او د علي د وينا له امله چې له صحابه وو يې څوک مخالف ندی پېژندل شوی. او ګټه به په لاس کې له شته مال سره يو ځای کوي که نصاب ته رسيدلی و او له خپل جنس څخه يې و او يا يې په حکم کې راته لکه: سپين زر له سرو زرو سره، نو که چېرته د نصاب له جنس څخه نه و او نه د هغه حکم ته شاملېده، نو هغه لره خپل حکم دی.

دا باب د ( اوښانو، غواګانو او مېږو ) د زکات په اړه دی.

زکات واجب ندی مګر په سائمة کې (هغه چې د کال ډيری وخت خپله څريږي) خو که چېرته يې ورته واښه په بيه اخستل او يا يې ورته راټولول نو په هغې کې زکات نشته او هغه درې ډوله دي:

(لومړی یې) اوښان دي؛ زکات پکې نشته تر دې چې پنځو ته و نه رسيږي، بيا پکې يو پسه دی. او په لسو کې دوه پسونه دي، او په پنځلسو کې درې پسونه دي، او په شلو کې څلور پسونه دي؛ پدې ټولو اجماع ده. کله چې پنځه ویشتو ته ورسيدل نو بيا پکې بنت مخاض ده؛ يو کلنه اوښه. که بنت مخاض يې نه درلوده، ابن لبون ورکولی شي؛ يعنې دوه کلن اوښ، او په شپږ دېرشو کې بنت لبون ( دوه کلنه اوښه ) ده، او په شپږ څلوېښتو کې حقة ( درې کلنه اوښه ) ده، او په يو شپېتو کې جذعة ( څلور کلنه اوښه ) ده، او په شپږ اوياو کې دوه بنت لبون( دوه کلنې اوښې ) دي، او په يو نويو کې دوه حقې ( درې کلنې اوښې ) دي، او په يو سل او يو ويشتو کې درې دوه کلنې اوښې دي، بيا فرض همدلته ودريږي داسې چې په هرو څلويښتو کې يوه دوه کلنه اوښه او په هرو پنځوسو کې يوه درې کلنه، کله چې دوه سوو ته ورسېدل دوه فرضونه سره برابر شول که يې خوښه وه څلور ( څلور کلنې ) دي وباسي او يا يې غوښتل چې پنځه ( دوه کلنې ) وباسي؛ نو کولی شي.

( دويم ) غواګانې دي؛ زکات پکې نشته تر دې چې ديرشو ته نه وي رسيدلي؛ بيا پکې تبيع او يا تبيعة ( هغه چې يو کال يې پوره کړی وي ) واجبيږي، او په څلوېښتو کې مسنة ( دوه کلنه ) او په شپېتو کې دوه ( يو کلنې) بيا وروسته په هرو دېرشو کې يوه ( يو کلنه ) او په هرو څلوېښتو کې يوه ( دوه کلنه ) ده.

(دريم) پسونه دي؛ زکات پکې نشته تر دې چې څلوېښتو ته نه وي رسيدلي، بيا پکې يو پسه کيږي تر دې چې يو سل او شلو ته ورسيږي کله چې يو پرې زيات شو بيا پکې دوه پسونه دي ترې دې چې دوه سوو ته ورسيږي، کله چې يو پرې زيات شو بيا پکې درې

پسونه کيږي تر درې سوو پورې، بيا پکې څلور پسونه کيږي، بيا وروسته په هرو سلو کې يو پسه دی، له دوی څخه سيرلی (چيلی)، زړه؛ چې سن يې زيات وي، معيوبه، هغه چې عيب ولري، بچی لرونکې چې روزنه يې کوي، بلاربه، چاغه او تر ټولو غوره مال يې ترې نه اخستل کيږي، دليل يې د پيغمبر صلی الله عليه وسلم قول دی:

"ولكن من أوسط أموالكم فإن الله لم يسألكم خيره ولم يأمركم بشره"

«مګر ستاسو د منځمهالي مالونو څخه، ځکه الله تعالی يې درڅخه غوره ندي غوښتي او د بې کاره (حيواناتو په ورکولو يې درته) امر ندی کړی». (دا حديث) ابوداود روايت کړی دی، ميږې چې سره ګډې (يوځای) شي نو دوه ډوله مال د يو مال په څېر کيږي.

باب دی په بيان د زکات د زمکې د حاصلاتو کې

په هر هغه شی کې چې په پيمانه او د ذخيره کولو وړ خوراکي توکو او نورو کې په دوه شرطونو واجب دی، لومړی يې نصاب ته رسيدل دي چې پنځه وسقه دی او يو وسق شپېته صاعه دی، او د نصاب د پوره کېدو لپاره د يو کال ميوه او کښت يو بل سره يو ځای کيږي د نصاب د پوره

کولو د پاره. دویم: د واجبېدو پر مهال یې باید نصاب په خپل ملکیت کې وي، ځکه په هغه مال کې چې راغونډوي یې، او یا بخشش ورکول کیږي، او یا په لو کولو مزدوري یې اخلي په هغې ګې واجب نه دی. په هغه کښت کې چې له زیار پرته خړوب شوی وي لسمه برخه واجب ده، او هغه چې په زیار سره خړوبیږي د لسمې (عشر) نیمه او هغه چې له دواړو لارو خړوبیږي نو درې پر څلورمه. که له یو بل سره یې توپیر درلوده نو هر یو چې ګټور و، او د ناپوهۍ په حال کې لسمه، او د غلو دانو زکات باید له پاکو او د میوو له وچو څخه ورکړل شي. او روا ندي چې د زکات او یا خیرات مال یې بېرته په بیه واخلي، خو که په مېراث کې ورته بېرته راوګرځېده ورته اخستل یې روا دي. او امام (حاکم) به یو تن اټکل کوونکی لیږي او یو تن بس دی، هغه راټولوونکی به د باغ خاوند ته دومره رطب ( لمدې ) خرما پریږدي چې هغه او اولادونو ته یې بسنه وکړي، که یې ورته پرې نښودې نو د مال خاوند ته روا دي چې وایې خلي، او احمد د میوو راټولول او راشکول د شپې مهال مکروه ګڼلي، او د زکات عشرونه بیا بیا نه اخستل کیږي اګر که کلونه هم پاتې شوي وي، خو چې د تجارت لپاره نه وي، که چیرته ول نو بیا له هر کال څخه اخستل کیږي د هر کال قیمت به یې معلوم ولای شي

## باب دی په بیان د زکات د سرو زرو او سپینو زرو کې

د سرو زور نصاب شل مثقاله او د سپینو زرو دوه سوه درهمه دی. او د لسمې څلورمه پکې کیږي، د نصاب د پوره کولو لپاره یو له بل سره یوځای کیږي، همدا رنګه د توکو بیې

يو بل سره يو ځای کيږي. او په روا ګاڼه کې چې (کاريږي) زکات نشته، که چېرته د سوداګرۍ لپاره چمتو شوې وه نو زکات پکې شته، د نر لپاره له سپينو زرو ګوته روا ده او غوره ده چې د چپ لاس په کچې ګوته يې په ګوته کړي او احمد دا قول ضعيف ګڼلی چې ګوته دې د ښي لاس په ګوته کې وکارول شي. او د سړي او ښځې لپاره د اوسپنې، زيړو او مسو د ګوتې کارول مکروه دی، پدې اړه يې دليل وړاندې کړی، او روا دي چې د تورې نوکه له سرو زرو او تخته يې سنګاري جوړه شي، ځکه صحابه کرامو - رضی الله عنهم - خپلې توري په سرو زرو سره سينګارولې، او د ښځو لپاره د سرو او سپينو زرو هر هغه کالی چې اغوستل يې د عادت له مخې دوديز وي روا دي، او په کاليو او هر څه کې مکروه دي چې سړی ځان د ښځې او يا ښځه ځان د سړي په څېر جوړ کړي.

باب دی د تجارتي سامانونو د زکات په باره کې

کله يې چې قيمت نصاب ته ورسيږي او د سوداګرۍ لپاره وي نو زکات پکې واجبيږي. او هغه جايداد او يا حيوان او داسې نور چې د کرايې لپاره وي زکات پکې نشته.

باب دی په بيان د سرسايې کې.

او دا روژه لرونکي ته له بې ځايه او پوچو کړنو څخه پاکوالی دی، په هر مسلمان باندې فرض عين ده کله چې دومره څه ورسره وو چې د اختر په شپه او ورځ د ده د بال بچ د نفقې څخه زيات و يو صاع د خپل ځان له طرفه او هغه څوک چې په ده يې سرسايه لازم ده ، او اړ ندی چې د مزدور

لخوا يې ورکړي، که چېرته يې د ټولو لخوا نشو ورکولی بيا دې لومړی په خپل ځان پيل وکړي او بيا د نږدې پسې نږدې، او په رحم کې حمل باندې په اجماع سره نشته، او چا چې د رمضان په مياشت کې د يو مسلمان لګښت په غاړه واخست نو د فطر زکات يې هم پرې لازم دی، او روا ده چې د اختر له ورځې څخه يوه او يا دوه ورځې مخکې ورکړل شي، او د کوچني اختر له لومړۍ ورځې يې وروسته کول پکار ندي، که دا کار يې وکړ ګناهکار شو او قضا به يې راوړي. او غوره ده چې د اختر په ورځ د لمانځه څخه مخکې ورکړل شي، واجب اندازه يې يو صاع خرما يا غنم يا مميز يا وربشې او يا پنير دي، که چېرته يې ونه موندل پر ځای دې په علاقه کې چې کو مروج طعام وي هغه دې ورکړي، احمد کره طعام غوره ګڼلې او د ابن سيرين څخه يې نقل کړي دي،او جايز دي چې ډيرو ته هغه څه ورکړي چې لازم دي ورکول يې يو ته او د دې عکس هم.

باب دی په بيان د زکات ايستلو کې.

چې د ورکولو امکان يې وي نو له خپلې واجبې نيټې يې وروسته کول روا ندي مګر د امام او مستحق د نه شتون له امله، همدا رنګه زکات راټولونکي لره د عذر له امله جايز دي چې وروسته يې کړي د خپل بادار سره يې د قحطۍ او يا بل عذر له وجې پرېږدي لکه لوږه. احمد د عمر په کړنه استدلال کړی دی.

باب دی په بيان د هغه خلکو کې چې مستحق د زکات دي.

دوى اته دي، پرته لدوى نورو ته ورکول يې روا ندي.دليل يې آيت دى

لومړى او دويم: فقرا او مسکينان دي. سوال کول روا ندي پداسې حال کې چې څوک دومره څه ولري چې له نورو يې مستغني کوي، او د څکلو اوبو، د کاروني لپاره له چا څخه د يو څه اخستل او يا قرض غوښتلو لپاره سوال کولو کې کومه خبره نشته، همدا رنګه وږې ته ډوډۍ ورکول، د بربنډ پټول او د بندي ازادول واجب دي.

دريم: په ( بيت الزکات) کې کار کوونکي لکه: راټولوونکی، ليکونکی، شمېرونکی، پيمانه کوونکی. او له خپلو نږدې خپلوانو جايز ندی، او که امام غوښتل پرته له عقد څخه دي ولیږي او که يې غوښتل ټاکلي څه دې ورته معلوم کړي.

څلورم: هغه چې زړونه يې ساتل کيږي، دوى هغه ملکان دي چې خپل خلک يې له کافرانو تابعداري کوي، په زکات سره يې د اسلام راوړلو په اميد زړونه ساتل کيږي او يا مسلمان ته چې ايمان يې لا پسې غښتلی شي او يا يې په څېر بل اسلام راوړي او يا هغه ته د يو مصلحت په موخه او يا يې شر بند شي، او مسلمان ته روا ندي چې واخلي هغه څه چې د هغه د شر د دفع کولو په موخه ورکول کيږي لکه رشوت.

پنځم: رقاب؛ دوى هغه مريان دي چې د خپلو ځانونو د ازادولو لپاره يې د خپل بادار سره ليکل کړي وي، همدا رنګه جايز چې د مسلمان اسير فديه ترې ورکړل شي کله چې هغه د کافرو په ولکه کې وي، ځکه دا د غاړې ازادول دي، همدا

رنګه روا دي چې پدې سره مريی واخستل شي او ازاد شي، دليل يې دا عمومي وينا د الله تعالی ده: ( وفی الرقاب ).

شپږم: قرضداران چې دوه ډوله دي: يو يې هغه دی چې د روغې جوړې په خاطر قرضدار شوی وي، مال يې د دې لپاره په خپل سر اخستی وي تر څو فتنه آرام کړي، دويم: چا چې د خپل ځان په خاطر د يو روا کار لپاره قرض وکړ.

اووم: د الله په لار کې: دوی هغه کسان دي چې د الله په لار کې جنګيږي، دوی ته دومره ورکول کيږي چې د جنګ لپاره ورته بسنه وکړي اګر که اړتيا ورته هم و نه لري، او حج هم د الله په لار کې وتل دي.

اتم: ابن السبيل؛ هغه مسافر دی چې په لاره کې بند پاتې دی دومره څه ورسره نشته چې تر کوره يې ورسوي، نو دومره څه ورکول کيږي چې تر کوره يې ورسوي اګر که په خپل ځای کې دی (زکات) ته اړتيا نه لري. که څوک دعوی وکړي چې فقير دی او مالداري يې نه وه معلومه خبره يې منل کيږي، او که چېرته ځواکمن و او کسب او کار يې معلوم و ( زکات ) ورکول روا ندي، او که کسب او کار يې معلوم نه و (زکات) ورکول کيږي وروسته لدې چې ورته وويل شي چې د (زکات) اخستل غني او ځواکمن کسبه ته روا ندي، که بيګانه اړمن و خپلوان ته نه ورکول کيږي، داسې به هم نه کوي چې لرې پريږدي او خپلوان ته يې ورکړي، له خپل ځان څخه به په (زکات) ملامتيا نه چپوي، نه به پرې څوک مقرروي، نه به پرې خپل مال ساتي. نفلي صدقه په هر وخت کې مسنون عمل دی، او په پټه ورکول يې غوره دي، همدا رنګه د روغتيا

پر مهال په خوشحالۍ سره او د روژې په میاشت کې، څکه پیغمبر صلی الله علیه وسلم همداسې کړې دي، او د اړتیا پر مهال؛ الله تعالی فرمایلي:

{ في یوم ذي مسغبة }

[د لوږې په ورځ کې]. او صدقه په خپلوان باندی خیرات او صله رحمي ده، په ځانګړې توګه کله چې دښمني ورسره ولري، د پیغمبر صلی الله علیه وسلم د دې قول له امله:

"تصل من قطعك"

«هغه چا چې(خپلوي) درسره پرې کړې ده ورسره یې بېرته جوړه کړه» بیا ګاونډی، الله تعالی فرمایي:

{ والجار ذي القربی والجار الجنب }

[خپلوان ګاونډی او په خوا کې ګاونډی] او هغه څوک چې اړتیا یې ډېره وي؛ الله تعالی فرمایي:

{ أو مسکیناً ذا متربة }

[یا مسکین ته چې په خاورو ککړ وي] او هغه څه به صدقه نه ورکوي چې ده ته او یا یې قرضدار ته زیان رسوي او یا هغه څوک چې پر ده یې نفقه لازم وي، څوک چې د خپل ټول مال خیرات کول وغواړي او هغه کورنۍ ولري چې په خپل کسب او کار سره یې هغوی ته رسېدل کولی شول، او له ځان څخه پر الله تعالی په ښه توکل کولو باوري و، نو ورته مستحب دي چې دا کار وکړي، دلیل یې د صدیق کیسه ده، او که داسې نه و نو ورته روا ندي چې دا کار وکړي، او باید چې بندیز پرې ولګېږي، او هغه څوک چې په تنګسیا صبر نه شي کولای ورته مکروه دي چې ځان د پوره بسایني له حالت څخه

وباسي، او په صدقه کې پر چا احسان کول حرام دي بلکه لويه ګناه ده او ثواب يې له منځه ځي. او چا چې کوم څه راوويستل چې صدقه يې کړي بيا ورته يو څه پېښ شول ورته مستحب دي چې مخته يې يوسي، او عمرو بن العاص به چې کله سوالګر ته خوراک راوويست او بيا بې و نه موند نو پرېښوده به يې، او په خيرات کې به ښه مال ورکوي، او له خراب څخه به ډډه کوي، نو ښه مال به په صدقه کې ورکوي، غوره صدقه هغه ده چې خپله اولاده يې ورته اړتيا ولري او بيا هم صدقه ورکړي، دا د لاندې خبر سره په ټکر کې ندی

"خير الصدقة ما كان عن ظهر غنى"

«غوره صدقه هغه ده چې له ورکولو وروسته يې انسان اړمن نه شي». له جهد المقل څخه موخه دا ده چې خپله اولاده يې ورته هم اړتيا لري.

کتاب دی په بيان د روژه کې

د رمضان د مياشتې روژه نيول د اسلام يو رکن دی او د هجرت په دويم کال فرض شوې ده، نو پيغمبر صلى الله عليه وسلم نهه رمضان روژه ونيوله، د شعبان د مياشتې په دېرشمه شپه د مياشتې ليدلو ته کېناستل مستحب دي، او د مياشتې په ليدلو يې د رمضان روژه نيول واجبېږي، که په صاف آسمان کې مياشت ونه لېدل شوه نو ديرش به پوره کوي او پرته له کوم اختلاف نه به بله ورځ روژه ونيسي، کله چې مياشت وګوري تکبير به وايي او وايي به:

"اللهم أهله علينا بالأمن والإيمان والسلامة والإسلام والتوفيق لما تحب وترضاه ربي وربك الله هلال خير ورشد"

"اللهم أهله علينا بالأمن والإيمان والسلامة والإسلام والتوفيق لما تحب وترضاه ربي وربك الله هلال خير ورشد" د مياشتې د لېدلو لپاره د يو تن عادل وينا منل کيږي، ترمذي له ډيرو علماوو روايت کړی دی، او که چا يوازې وليدله او ګواهي يې و نه منل شوه، پخپله پرې د روژې نيول لازم دي، او بوزه به نه کوي مګر د خلکو سره يو ځای او کله چې د شوال مياشت وګوري نو نه به بوزه کيږي،

مسافر چې کله د خپل کور کلي نه جلا شو بوزه کيږي به، خو روژه نيول ورته غوره دي د ډيری علماوو تر منځ د اختلاف نه د وتلو له امله، او که حامله او شېدې ورکوونکې پر ځانونو او يا اولادونو يې وېرېدې ورته روا دي چې روژه وخوري، خو که يوازې په اولادونو ويرېدې نو د هرې ورځې پر ځای دې يو مسکين ته ډوډۍ ورکړي، او د آيت پر بنا که ناروغ له ضرر څخه وېريده نو د روژې نيول ورته مکروه دي، او که څوک د بوډاوالي او يا د داسې ناروغۍ له امله چې د روغتيا هيله يې نه وه له روژې نيولو عاجز و ، روژه دې وخوري او د هرې ورځې پر ځای دې يو مسکين ته ډوډۍ ورکړي، او که ستوني ته يې مچ او يا ګرد ننوت او يا يې پرته له قصده ستوني ته اوبه ننوتې روژه يې نه ماتيږي.

او واجب روژه د شپې څخه له نيت کولو پرته نه صحيح کيږي، او نفلي روژه د ورځې په نيت؛ مخکې او وروسته له زوال څخه صحيح کيږي.

باب دی د هغه څه په اړه چې روژه فاسدوي

چا چې څه وخوړل او یا یې وڅکل او یا یې د پوزې له لارې غوړ او یا نور څه وکارول او تر ستونې یې ورسیدل او یا یې ستونی راډک کړ نو استفراق یې وکړ، یا یې خپله خکر ولګاوه او یا یې بل ته ولګاوه روژه یې فاسده شوه، او د چا چې هېر و چې روژه دی په پورته یو کار یې هم روژه نه فاسدیږي، او کله چې د سهار په راختلو شکي و، نو کولی شي تر هغه چې ډاډمن شي خوراک او څښاک وکړي، دالله تعالی د دې وینا له وجې:

{ وكلوا واشربوا حتى يتبين لكم الخيط الأبيض من الخيط الأسود من الفجر }

[او خورئ، او څښئ تر هغه چې تاسو ته سپین تار د سبا له تور تار نه ښه ښکاره (او ښېل) شي]. او چا چې په جماع سره روژه ماته کړه نو پر هغه د ظهار کفاره ده د قضا راوړلو سره، او د چا چې شهوت راپاریږي نو ښکلول ورته مکروه دي، او له دروغ ویلو، غیبت کولو، ښکنځلو، چغلي کولو څخه په هر وخت کې ځان ساتل پکار دي خو د روژه لرونکي لپاره زیات ټینګار شوی، او هغه څه چې مکروه دي ورڅخه دي ځان وساتي، که چېرته ورته چا ښکنځل وکړل نو ودې وایي: زه روژه یم. کله چې له لمر ډوبیدو څخه ډاډمن شو نو د روژې په ماتولو کې ورته بیړه کول سنت دي، او په غالب ګمان سره هم روژه ماتولی شي، د پیشنمي وروسته کول هم سنت دي خو چې د سهار د راختلو ویره نه وي، د پیشنمي فضیلت پدې کې دی چې خوراک او څښاک پکې وشي اګر که لږ هم وي، روژه به په تازه خرماو ماتوي، که یې و نه موندې نو په وچه خرما، که یې و نه موندې نو په اوبو، او د روژه ماتي پر مهال

به دعا کوي، چا چې روژه دار ته روژماتی ورکړ، نو د هغه د ثواب په څېر ثواب یې وشو. د رمضان په میاشت کې د قرآن کریم زیات تلاوت، ذکر او صدقه کول مستحب دي، غوره نفلي روژې هغه دي چې یوه ورځ روژه او بله بوزه وي، له هرې میاشتې څخه درې ورځې نفلي روژې نیول سنت دي، د أیام البیض(۱۳،۱۴،۱۵) روژې غوره دي، او د دوشنبې او پنجشنبي ورځو روژه نیول هم سنت دي، او د شوال له میاشتې شپږ ورځ اګر که پرلپسې هم نه وي ، او د ذی الحجی د میاشتې نهه ورځې روژه او هغه چې زیات ټینګار پرې شوی نهمه ده چې هغه د عرفې ورځ ده.

او د محرم د میاشتې روژه او غوره یې د نهمې او لسمې ورځې روژه نیول دي، د دواړو تر منځه یو ځای کول سنت دي ، او د عاشورا په ورځ کې چې پرته له روژې نیولو نور هر څه راغلي دي هیڅ اصل نه لري بلکه بدعت دي، او په روژې سره د رجب د میاشتې ځانګړې کول مکروه دي، او هر حدیث چې د روژې په فضیلت او پکې د لمانځه کولو په اړه راغلی دی هغه دروغ دي. او په روژې نیولو سره د جمعې د ورځې ځانګړې کول هم مکروه دي، او د رمضان له پیل نه وړاندې یوه یا دوه ورځې روژې نیول مکروه دي، وصال(روژه نه ماتول شپه او ورځ کې) هم مکروه دي، او د اخترونو او تشریق(یولسم دولسم او دیارلسم د ذی الحجې) په ورځو کې د روژو نیول حرام دي، همدا رنګه ټول عمر روژه نیول مکروه دي، د قدر شپه د عظمت شپه ده، د دعا د قبلېدلو امید پکې شته، الله تعالی فرمایي:

{ ليلة القدر خير من ألف شهر }
[د قدر شپه له زرو مياشتو نه غوره ده] مفسرينو ويلي:
دغه شپه په عبادت او غوره عمل سره تيرول د هغو زرو مياشتو له عبادت نه غوره ده چې دا شپه پکې نه وي، او د قدر شپه ورته لدې امله ويل کيږي چې د راتلونکي کال په اړه پکې هر څه اندازه کيږي او دغه شپه په ځانګړې ډول په وروستيو لسو او بيا طاقو شپو کې ده، او تر ټولو زيات احتمال د اوه ويشتم شپه ده، او هغه څه چې پيغمبر صلى الله عليه وسلم عائشې - رضى الله عنها - ته ښودلې دي په هغه سره به دعا کوي.
( اللهم إنك عفو كريم تحب العفو فاعف عني )
(يا الله! ته زيات بخښونکى پتمن يې، بخښنه خوښوې، نو ماته بخښنه وکړه). او الله ډېر ښه پوهيږي. وصلى الله على محمد و على آله وصحبه وسلم.

## د لمانځه حكمونه

د شيخ الاسلام: محمد بن عبد الوهاب رحمه الله

په مدد د نوم د الله چې ډير او هميشه مهربان دى شروع كوم.

د لمانځه شرطونه نهه دي:

اسلام، عقل، تمييز، پاكوالى او د عورت پټول، له پليتۍ څخه ځان ساتل، د وخت په داخلېدو پوهېدل، قبلې ته مخ كول، نيت او اراده.

د لمانځه ركنونه څوارلس دي

په ولاړه لمونځ کول چې په ولاړه قادر وي، تحریمه تکبیر او د فاتحې لوستل، رکوع، له رکوع نه پورته کېدل، برابر ودرېدل، سجده، له سجدې نه پورته کېدل، د دوو سجدو تر منځ کېناستل،ټول رکنونو په پوره سکون او ارام سره کول، ترتیب مراعت کول د ارکانو تر مینځ، وروستی تشهد، وروستي تشهد ته کېناستل، لومړی سلام(د لمانځه څخه په سلام وتل).

د لمانځه باطلوونکي اته دي

په قصدي توګه خبرې کول، خندا، خوراک، څښاک، د عورت لوڅول، له قبلې څخه مخ کږول، زیات بې ځایه حرکتونه کول، د نجاست رامنځته کېدل.

د لمانځه واجبات اته دي

ټول تکبیرونه پرته له تحریمه تکبیر څخه، دویم: د امام او مقتدي لپاره د سمع الله لمن حمده ویل، دریم: د ربنا ولک الحمد ویل. څلورم: د رکوع تسبیحات، پنځم: د سجدې تسبیحات، شپږم: د دوو سجدو تر منځ؛ رب اغفرلی ویل چې یو ځل ویل یې واجب دي.اووم: لومړی تشهد ځکه پیغمبر علیه السلام کړی او په دوامداره توګه یې کړی او امر یې پرې کړی، او کله یې چې هېر شوی دی د سهوې سجده یې کړې ده، اتم: د تشهد لپاره کېناستل.

د اوداسه فرضونه شپږ دي

د مخ مینځل،د لاسونو مینځل سره د څنګلو، د ټول سر مسح کول، د پښو مینځل سره د ګیټیو، ترتیب او پرله پسیوالی (تر څو مخکې مینځل شوی غړی وچ نه شي).

د اوداسه شرطونه پینځه دي

پاکي اوبه، سړی باید مسلمان او د تمیز قوه لرونکی وي، کوم مانع موجود نه وي، پوستکي ته د اوبو رسیدل، او د وخت داخلېدل(شروط الوضوء:الاسلام،العقل،التمیز،البسملة فی ابتداء الوضوء،النیة،ان یکون الماء الذی یتوضا به طهورا،ازالة ما یمنع وصول الماء الی الجلد.اسلام،عقل،تمیز،باسم الله ویل د اودس په شروع کې نیت،پاکي اوبه،او هغه شی چې پوستکي ته اوبه نه پرېږدي د هغې لیرې کول)

د اوداسه نواقض (ماتوونکي) اته دي

هغه چې له قُبل او دُبر څخه راوځي، په زیاته کچه له بدن نه څه راوتل، په خوب او یا بل څه سره د عقل له منځه تلل، په شهوت سره د ښځې لمسول، د بنی ادم فرجین لمسول، مړي ته غسل ورکول، د اوښ غوښه خوړل، له اسلام څخه مرتد کېدل؛ الله تعالی مو دې ترې وساتي. والله اعلم.

# فهرست

.كتاب دی په بیان د ادابو كې لمانځه ته د تللو پر مهال ...................... 2
(دا كتاب دی په بیان د زكات كې) ............................................ 66
د لمانځه حكمونه ............................................................ 80

ps163v1.0 - 03/09/2026